٥

د افغانستان اسلامي امارت

ستره محکمه

شرعي

قضائي

حقوقي

# قضاء




د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې درې میاشتنۍ مجله

دویم کال، پنځمه ګڼه ( شوال المکرم، ذوالقعدة الحرام او ذوالحجة الحرام ) ۱۴۴۵ هـ ق/ ۱۴۰۳ هـ ش

د تأسیس کال ۱۳۰۹ هـ ش

# قضاء

شرعي- قضائي - حقوقي

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې درې

میاشتنۍ مجله

دویم کال، پنځمه ګڼه ( شوال المکرم، ذوالقعدة الحرام او ذوالحجة الحرام ) ۱٤٤٥ هـ ق/ ۱٤۰۳ هـ ش

د تأسیس کال ۱۳۰۹ هـ ش

د امتیاز څښتن: ستره محکمه    خپروونکی: د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

**کتنپلاوی**

شیخ محمد قاسم «راسخ»

مفتي عبدالرشید «سعید»

مفتي محمد حسین «کوثري»

مسؤول مدیر: مولوي عبدالرحیم «راشد»

پته: د عامې روغتیا څلور لارې، نهمه ناحیه، ستره محکمه، کابل - افغانستان

د اړیکې شمېرې: ۲۳۰۰۳٦۱_۲۳۰۲۲٦۳

برېښنالیک: publications.sc1443@gmail.com

ویب سایټ: www.supreme court.gov.af

بسم الله الرحمن الرحيم

## د مطالبو لړلیک:


سرمقاله: ........................................ اداره ... ۱

د قضاء تاریخ له نبوي دورې څخه تر اسلامي امارته ............... مولوي عبدالرحیم «راشد حقاني» ... ۲

د امام اعظم ابو حنیفه رحمه الله په اړه د امت د امامانو نظرونه ........ حشمت الله (میاخېل) ... ۷

تأثیر زبان عربی بر اصطلاحات قضائی و حقوقی افغانستان ........... اجمل (ذهین) ... ۹

په ټولنه کې د حدودو او تعزیراتو اهمیت او تأثیرات ............ مفتي فیض الله (فیاض) ... ۱۱

د حنفي فقهې راجحیت، غوره والی او جامعیت! .................. مولوي محمد بلال (حماد شېرزاد) ... ۱۷

د اسلامي نظام قضائیه قوه د بشپړ عدالت شهکاره ده ............ مفتي محمد عرفان (الهام) ... ۲۳

د رشوت (بډې) اخیستل د اسلام له نظره .................. حافظ مولوي دلاور (طارق) ... ۲۵

د سترې محکمې له اداري معاون صاحب سره ځانګړې خپرونه. ............... اداره ... ۳۰

گزارش مختصر از اجراآت قضائی و اداری ستره محکمه ا.ا.ا. ................ اداره ... ۳۳

# سرمقاله:

## د عادل او توانا څښتن په سپېڅلي نامه

قضاء د اسلامي نظام تر ټولو مهمه برخه او لوی مسؤولیت دی چې د اسلامي نظام د قضاء برخې مسؤولینو ته ورسپارل شوی دی؛ ترڅو یې په وسیله تر خپل قلمرو لاندې جغرافیه کې د مېشتو وګړو هر ډول شرعي حقونه تأمین او ملت د هوسایۍ او خوندیتوب آرام وکړي.

د افغانستان اسلامي امارت ستره محکمه هم د الله تعالی قانون د الله تعالی پر بندګانو تطبیقوي، په خپلو شرعي پرېکړو سره د مظلومانو لاس نیوی کوي؛ د ظالمانو د ظلم مخه نیسي او د خپل ظلم مطابق ورته هغه سزاوې ورکوي چې د الله تعالی او د هغه د رسول (صلی الله علیه وسلم) لخوا ورته ټاکل شوې دي.

ستره محکمه چې په رأس کې یې د هېواد لوی عالم او محدث محترم شیخ عبدالحکیم (حقاني) حفظه الله تعالی دی او لاندې قضائي او اداري تشکیل کې یې هم د هېواد مشهور علماء کرام موجود دي، توانېدلې چې پر مجرمینو د شریعت د احکامو د تطبیق په وسیله هېواد کې ظلم، زور زیاتی او نور بد اعمال ډېر راکم کړي.

د محاکمو د مسؤولینو د هڅو، شرعي او شفافو پرېکړو په برکت په دغه برخه کې ورځ تر بلې قوت او شفافیت راځي او هڅه کېږي چې د ټولو هېوادوالو دوسیو ته په ټاکلي وخت رسېدنه وشي، دغې موخې ته د رسېدو لپاره د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې محترم مشرتابه د سترې محکمې او اړوند ادارو په تشکیل کې د تېر کال په پرتله ډېروالی رامنځته کړی دی، د خلکو د غوښتنو او اداري د بریالیتوب په موخه یې مؤظفو پلاوو چې د ځینو په رأس کې خپله قاضي القضات شیخ صاحب، قضائي معاون صاحب، اداري معاون صاحب، د نظامي محاکمو معاون صاحب او نور با صلاحیه مسؤولین موجود وو، د هېواد له ټولو محاکمو لیدنه کړې، هلته یې د محاکمو او نورو امارتي ادارو پر مسؤولینو سربېره له عامو هېوادوالو سره کتلي او د محاکمو د چارو د لابهبود په برخه کې یې د لازمو او ضروري اجراآتو هدایات ورته کړي دي.

د افغانستان اسلامي امارت سترې محکمې د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست خپل مسؤولیت ته په پام د قضاء مجلې په دې (پنځمه) ګڼه کې هم د هېواد د تکړه لیکوالانو او علماء کرامو علمي او قضائي لیکنې او دغه راز د درې ګونو محاکمو د (۱۴۰۲ هـ ش) کال د قضائي او اداري اجراآتو خلاصه ځای پر ځای کړې ده؛ ترڅو د یاد ریاست د اطلاع رسونې مکلفیت ادا او دغه معلومات د قضاء مجلې له طریقه په چاپي بڼه تر تاسو ښاغلو در ورسوي.

د قضاء مجلې په پنځمه ګڼه کې چې تاسو یې اوس مطالعه کوی د قضاء تاریخ له نبوي دورې تر اسلامي امارته، د امام اعظم ابوحنیفه (رحمه الله) په باب د امت د امامانو نظرونه، تأثیر زبان عربی بر اصطلاحات قضائی و حقوقی افغانستان، په ټولنه کې د حدودو او تعزیراتو اهمیت او تاثیر، د حنفي فقهې راجحیت، غوره والی او جامعیت، د اسلامي نظام قضائیه قوه د بشپړ عدالت شهکاره ده او د اسلام له نظره د رشوت(بډې) اخیستل تر عنوان لاندې علمي لیکنو سربېره د سترې محکمې له اداري معاون محترم شیخ عبدالمالک (حقاني) سره د اسلامي عدالت ځانګړې خپرونه لوستلای شئ.

دغه راز به د مجلې د دې ګڼې تر پوره مطالعې وروسته په دې پوه شئ چې د افغانستان اسلامي امارت درې ګونو محاکمو د ۱۴۰۲ هـ ش کال کې څومره حقوقي او قضائي دوسیې حل او فصل کړې دي او په همدې موده کې د هېوادوالو د تقاضا مطابق څومره وثیقې اجرا شوې دي.

**په درنښت**

# د قضاء تاریخ له نبوي دورې
# څخه تر اسلامي امارته
## پنځمه برخه

لیکوال: قاضي القضات شیخ عبدالحکیم (حقاني)[1]
ژباړن: مولوي عبدالرحیم (راشد حقاني)[2]



**د قاضیانو او والیانو د ټاکلو څرنګوالی:**

کله به چې رسول الله (صلی‌الله علیه وسلم) قاضیان یا والیان ټاکل، که به حاضر وو نو په شفاهي توګه به یې د ټاکلو امر وکړ، د قضاء ځینې چارې به یې ورته بیان کړې، په مستقیمې لارې د تګ لارښوونه به یې ورته وکړه او په وروستۍ مرحله کې به یې دعاء ورته کوله چې همداسې تګلاره یې د معاذ بن جبل او علي (رضي الله عنهما) سره کړې وه.

او که چېرې به ګمارل کېدونکی کس غائب و، نو هغه ته به یې لیک ولیکه، د قضاء ذمه‌واري به یې ور تر غاړې کړه او د ډېرو اړینو چارو لارښوونه به یې ورته وکړه، لکه څرنګه چې مخکې ذکر شوه چې رسول الله (صلی‌الله علیه وسلم) علاء بن حضرمي (رضي‌الله عنه) ته لیک ولیکه او همدارنګه کله یې چې عمرو بن حزم (رضي‌الله عنه) نجران ته لېږی، نو هغه ته یې هم لیک ولیک، چې متن یې په داسې ډول دی: «د مهربان او بخښونکي څښتن تعالی په سپېڅلي نامه پیل کوم، دا د الله تعالی او د هغه د پیغمبر (صلی‌الله علیه وسلم) له لوري بیان دی، چې په دې اړه لوی څښتن د سورت مائدې لومړي آیت کې فرمایي:

ژباړه: «اې د ایمان څښتنانو! په وعدو او تړونونو باندې وفا کوئ».

دا تړون د الله تعالی د رسول او نبي محمد (صلی‌الله علیه وسلم) له لوري عمرو بن حزم (رضي‌الله عنه) ته دی کله چې یې یمن ته لېږی.

په ټولو کارونو کې دی له الله (جل جلاله) څخه په وېره باندې امر کوم، د کومو څېزونو چې حکم ورته شوی، هغه به پرځای کوي او د غنیمت له مالونو څخه دې د الله تعالی پنځمه برخه واخلي او د مسلمانانو ځمکو باندې چې کوم خیرات لازم دی، هغه دې ترې واخلي، په غوایو او باران په اوبو که اوبه شوې وه، په هغه کې لسمه برخه ده او که د سلواغو په واسطه اوبه شوې وه، نو شلمه برخه ده.

(یحیی بن آدم په الخراج ص ۱۱۶) کې دا روایت نقل کړی دی.

---

۱- د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې رئیس

۲- د سترې محکمې د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو رئیس

**په قضاء کې تخصیص:**

له مخکنیو بېلګو څخه دا څرګندېږي چې کله به په نبوي دوره کې قاضیان ټاکل کېدل، د قاضیانو لپاره به یې ځانګړې سیمه مشخصوله، لکه عتاب بن اسید (رضي‌الله عنه) یې د مکې مکرمې او شاوخوا او علاء بن حضرمي (رضي الله عنه) یې د بحرین لپاره د قاضیانو په توګه وټاکل.

دغه راز د مخکنۍ جریان څخه د موضوع تخصیص هم څرګندېږي، لکه چې مخکې د دارالقطني روایت کې تېره شوه، چې یو قوم خپله هغه دعوه چې د لرګیو څخه جوړې شوې خونې باندې راغلې وه، رسول الله (صلی‌الله علیه وسلم) ته وړاندې کړه، نو پیغمبر علیه السلام حذیفه (رضي‌الله عنه) ور ولېږی، ترڅو د هغوی منځ کې پرېکړه وکړي.

او د دارالقطني د همدغه پورته روایت څخه د وخت تخصیص هم څرګندېږي.

نو له دې پورته مواردو څخه دا معلومیږي چې قضاء تخصیص او تقیید مني او پر دې د علماوو او فقهاوو اجماع هم ده، نو کله چې امیر د قاضي لپاره یوه سیمه ځانګړې کړه، نو د قاضي قضاء تر همدې سیمې پورې منحصره ده او د هغې بهر پرېکړه نه شي کولای او همدارنګه کله چې یې یوه مذهب کې اختیار ورکړ، نورو مذهبو کې یې قضاء نافذه نه ده.

**په نبوي دوره کې د قضاء مأخذونه:**

په نبوي دوره کې قضاء او نور احکام په لاندې کارونو باندې ولاړه وه:

**۱- ښکاره وحیې (قرآنکریم):** وحیې جلي یا قرآنکریم دا د الله تعالی هغه کلام دی، چې پر محمد (صلی‌الله علیه وسلم) باندې نازل شوی دی، چې بیا په متواتر ډول نقل شوی دی، هغه که له پېښې وړاندې نازل شوی وي یا له پېښې وروسته، چې دا نزول یې د بیان او په مستقیمې لارې باندې د لارښوونې په موخه وو.

**۲- پټې وحیې (حدیث):** وحیې خفي هغه قول، فعل او تقریر ته ویل کېږي، چې د رسول الله (صلی‌الله علیه وسلم) څخه صادر شوی وي، چې په اصل کې دا خپله آسماني وحیې دي، ځکه د رسول الله (صلی‌الله علیه وسلم) په اړه الله تعالی فرمایي: دغه محمد صلی الله علیه وسلم) له خپل نفسي خواهش څخه خبرې نه کوي او دا (قرآن) خو یوه وحیې ده چې پر هغه نازلیږي.

**۳- اجتهاد:** اجتهاد په هغه مواردو کې کېږي، چې په هغه اړه د رسول الله (صلی‌الله علیه وسلم) او صحابه کرامو (رضي‌الله عنهم) څخه کوم نص نه وي صادر شوی، بیا هم د وحیې تر اغېز لاندې وي، هغه څه چې د شریعت او دین له خوا منل شوي دي د خدای تعالی او وحیې له خوا منظور دي، که نه وه نو وحیې یې باطلوي او د هغې صحیح ډول روښانه کوي.( تاریخ القضاء للزحیلي ص ۵۰)

دا متفق علیه او په دلائلو ثابت مأخذونه دي، چې یوه بېلګه یې د معاذ بن جبل (رضي‌الله عنه) حدیث دی، کله چې رسول الله (صلی‌الله علیه وسلم) یمن ته د ده د لېږلو هوډ وکړ، نو ورته وویل: کله چې څه پرېکړه درته راشي څنګه پرېکړه به کوې؟

هغه وویل: د الله په کتاب به پرېکړه کوم.

که د الله تعالی په کتاب کې پیدا نه شي؟

هغه وویل: د رسول الله په سنتو پرېکړه کوم.

بیا یې ورته وویل: که دواړو کې یې پیدا نه کړې؟

هغه وویل: په خپله رایه اجتهاد کوم.

بیا رسول الله (صلی‌الله علیه وسلم)هغه په سینه وواهه او وویل: ثناء هغه ذات لره ده چې د خپل رسول استازي ته یې د هغه څه توفیق ورکړ په څه چې د الله رسول راضي دی. (سنن ابو داؤد)

همدارنګه د ام سلمې (رضي‌الله عنها) په یو روایت کې راغلي چې رسول الله (صلی‌الله علیه وسلم) هغه دوو تنو ته چې د خپل هغه میراث په دعوه کې راغلي وه، کوم چې د ځینې څیزونو نښې یې ختمې شوي وې، وویل: دا ښکاره خبره ده، د کوم څه په اړه چې په ما څه نه وي نازل شوي، په هغه مورد کې زه په خپله رایه پرېکړه کوم. (رواه ابو داؤد)

او له دې جملې څخه د عبدالله بن مسعود (رضي‌الله عنه) حدیث دی، فرمایي: چاته چې کومه پرېکړه راشي،

نـو هغـه دې د قرآنکریـم په رڼا کې پرېکړه ورتـه وکړي، که چیرې داسې پرېکړه وه چې پـه قرآنکریم کې موجـوده نه وه، نـو پـه هغـه څـه دې پرېکړه وکړي کوم چې رسـول الله (صلی‌الله علیـه وسلم) پـرې کـړې ده، کـه بیـا هـم چېرې داسې پرېکـړه راشي، چـې نـه پـه قرآنکریـم کـې موجـوده وه او نـه رسـول الله (صلی‌الله علیـه وسـلم) د هغـه پـه اړه کومـه پرېکـړه کـړې وه، نـو په هغه څـه دې پرېکـړه وکړي، کـوم چې اسلافو ویلي وي او کـه چېرې داسې پرېکـړه راشي، چـې نـه په قرآنکریم کـې موجوده وي، نه رسـول الله (صلی‌الله علیـه وسـلم) پـه هغـه اړه پرېکړه کـړې وي او نه هـم د اسلافو پرېکـړه شـتون ولري، نـو خپل پـه اجتهاد دې پرېکـړه وکـړي او کـه چېـرې يې کومـه نېکه رایـه ورسره نه وه، نـو بیـا دې وضاحـت ورکـړي او دې کـې دې شرم نـه کـوي. (رواه الحاکـم في المسـتدرک)

**په اجتهاد کې حکمت:**

د رسـول الله (صلی‌الله علیه وسلم) پـه اجتهاد کې حکمت او دا چې صحابـه کرامـو (رضي‌الله عنهم) ته یې د اجتهاد پـه برخـه کـې اجـازه ورکـړې، دا دی. چې د اسلام دیـن د شریعتونـو وروسـتی شریعـت دی او د قیامـت تـر ورځـې د ټولـو خلکـو لپـاره همـدا یو (برحقـه) دین دی، نو رسـول الله (صلی‌الله علیـه وسـلم) وغوښـتل چـې دوی تـه د مسـائلو د اسـتنباط طریقـه ور وښـایي او دوی تـه بـه یـې د ادلـه وو څخـه د احکامـو د را ایسـتلو برخه کې تمریـن ورکاوه، ځکه د دیـن نصـوص او قواعـد پـه تفصیلونـو او جزئیاتـو بانـدې مشـتمل نـه دي، ځکه پېښـې تر یـوې معلومـې زمانې پورې نـه محدودېږي، پـه هـره زمانـه کـې د وخـت اوسـېدونکو تـه داسې واقعـات پېښېږي چې مخکنیـو خلکـو بېخي نه پېژنـدل او نـه پـرې پوهېدل.

دا اړینـه خبـره واورئ، له روایاتو څخـه دا څرګندېږي، چې نبـي کریـم (صلی‌الله علیـه وسـلم) پـه قضائي چارو کـې ډېـر ماهـر و او دا مهـارت یـې د پیغمبرۍ لـه وجې نـه بلکې د یـو حاکـم پـه توګـه و، نبـي کریـم (صلی‌الله علیـه وسـلم) د شریعـت جوړونکـی، قـاضي او تنفیذوونکـی و، نـو لـه همـدې املـه د تشریـع، تنفیـذ او قضائي چـارو د یو جامـع سـمبالوونکي پـه توګـه یـې اجـراآت کـول، د احکامـو تشریـع یـې د پیغمـبرۍ لـه وجې وه، نـه د پاچاهـۍ له امله چې پـه رحلـت سره یـې دا دنـده پای تـه ورسـېده، مګر دا دوې نـورې دنـدې چـې د تنفیـذ او قضاء مسـؤولیتونه وې، چې بالعمـوم دا چـارې یـې پـه غـاړه شـوې وې، ځکـه چې نبـي علیـه السـلام څخه وروسته دا چارې خلفاء راشـدینو د ټولنـې د مصلحـت پـه موخـه پر مخ بېولې (چې تر اوسـه دا چـارې د حاکمانـو تـر غـاړې دي).

**د مظالمو او الحسبه قضاء:**

**د مظالمـو د قضـاء مفهـوم:** د مظلومانـو د قضاء مفهـوم او منظـور لـه والیانـو، حاکمانـو او بـا نفـوذه اشـخاصو څخه د مظلـوم د حـق اخیسـتل او پـر رعیـت او خلکـو بانـدې د هغـوی د ظلـم مخنیـوی دی.

**د الحسـبه قضـاء مفهـوم:** د الحسـبه قضاء څخـه موخه امربالمعـروف دی پـه هغـه صـورت کـې چې معـروف ترک شي او لـه منکرانـو څخـه منعـه کـول دي پـه هغـه صـورت کـې چـې پـه منکراتو عمـل وشي.

د قضاء دغـه دوه ډولونـه د پیغمـبر (صلی الله علیه وسـلم) پـه زمانـه کې په مسـتقل ډول نه وو موجـود؛ بلکې د قضائي دسـتګاه پـه داخـل کـې عمومـي او عـادي وو، دا ځکـه چې هغـه مهـال قـاضي د قوي او ضعیـف ترمنځ برابـري کوله.

د سـمره بـن جنـدب (رضي اللـه عنـه) حدیـث شریـف د مظالمـو د قضـاء پـر موجودیـت دلالـت کـوي، هغـه د یـوه انصـاري پـه باغ کـې د خرما د ونـو یو ردیف (کتـار) درلود، پـه داسـې حـال کـې چې هغه کس هـم ورسره و، وویل: خپلو ونـو تـه د سمره داخلېدل هغـه انصاري ته اذیـت ورکاوه، نـو لـه سـمره یـې وغوښـتل چـې دغـه ونـې پـرې وپلـوري؛ سـمره دا خبـره قبولـه نـه کـړه، بیـا یـې تـرې وغوښـتل چې هغـه ونـې انتقـال کـړي؛ خـو سـمره دا هـم قبولـه نـه کـړه، پیغمـبر (صلی‌اللـه علیـه وسـلم) تـه راغـی او موضـوع یـې ورسره شریکـه کـړه، هغـه مهـال پیغمـبر (صلی‌اللـه علیـه وسـلم) لـه سـمره وغوښـتل چـې دغه ونـې وپلوري خـو هغه قبولـه نـه کـړه، بیـا یـې تـرې وغوښـتل چـې ونـې انتقـال کـړي؛ خـو دا یـې هـم قبولـه نـه کـړه، پیغمـبر (صلی‌اللـه علیـه وسـلم) وویـل: ((پـس دا ونـې هغه تـه بخشش کړه او سـتا لپـاره بـه فـلان او فـلان شـی وي.)) هغـه شـی چې دی

يې ورته تشويق کړ؛ خو نوموړي دا هم قبوله نه کړه، بيا پيغمبر (صلى‌الله عليه وسلم) ورته وويل: ته مضر يې. (رسول صلى الله عليم وسلم) انصاري ته وويل: لاړ شه او د خرما ونې له ريښې څخه وباسه.)) [رواه ابوداود رقم (۳۶۳۶)]

دغه امر څرګندوي چې د الله تعالى پيغمبر (صلى‌الله عليه وسلم) د خرما د ونو د پلورلو يا له بخشش کولو حکم داسې نه دی انتخاب کړی چې يوازې شخړه پای ته ورسوي؛ بلکې داسې حکم يې انتخاب کړی چې هم شخړه پای ته ورسوي او هم د ظالم لاس خلاص پرېږدي. ځکه هغه له خپل حق څخه ناوړه استفاده کوله، په دې خاطر يې حکم وکړ چې د خرما ونې دې له ريښو څخه و ايستل شي چې د قضائيه قوې له حکم يې سرغړونه او ظلم کړی و، له دې حکم څخه شرعي سياست ښکاره کېږي ترڅو عمومي منافع تحقق پيداکړي.

يو بل روايت چې دغه مطلب تائيدوي دادی، چې عبدالرزاق له حسن څخه روايت کړی چې پيغمبر (صلى‌الله عليه وسلم) له يو داسې کس سره چې په جامو يې ژېړ رنګ وهلی و مخامخ شو، دغه مهال د پيغمبر (صلى‌الله عليه وسلم) سره په لاس کې لرګی و او وويل: ورس (هغه نبات چې ژېړ رنګ ترې جوړېږي) وغورځوه، هغه وايي پيغمبر (صلى‌الله عليه وسلم) هغه کس په خېټه په لرګي وواهه ورته وويل، آيا ته مې له دې کار څخه نه وې منعه کړی؟ دغه لرګي د سړي په خېټه اثر کړی و؛ خو وينې شوې نه وه، دغه مهال ياد کس وويل: يا رسول الله (صلى‌الله عيله وسلم)! زه بدله غواړم، خلکو ورته وويل آيا د الله تعالى له رسول (صلى‌الله عليه وسلم) څخه بدله غواړې؟ هغه وويل: «الله تعالى زما له پوست د هېچا پوست ته برتري نه ده ورکړې.» پيغمبر (صلى‌الله عليه وسلم) خپله خېټه لوڅه کړه، وويل: «بدله واخله»، دغه مهال ياد کس د نبي کريم (صلى‌الله عليه وسلم) خېټه ښکل کړه، وويل: (هغه تاته پرېږدم ترڅو د قيامت په ورځ زما شفاعت وکړې). رواه عبدالرزاق فى مصنفه رقم (۱۸۰۳۸)

دغه راز يو بل مطلب چې دغه امر تائيدوي د پيغمبر (صلى‌الله عليه وسلم) په وسيله د صدقو د کارکوونکو محاسبه کول دي. په يوه حديث شريف کې چې ابوحميد ساعدي (رضي‌الله عنه) روايت کړی راغلي: رسول الله (صلى‌الله عليه وسلم) د ابن اللتبيه په نوم يو کس چې د اسد له قبيلې څخه و د بني سليم پر صدقو ګومارلی و، کله چې هغه راغی محاسبه يې ورسره وکړه.

د ابو هريره (رضي‌الله عنه) حديث شريف پر الحسبه قضاء دلالت کوي، ابو هريره (رضي‌الله عنه) وايي چې د الله تعالى رسول (صلى‌الله عليه وسلم) د يوه اندازه خوراکي توکو ترڅنګ تېرېده، کله يې چې په کې لاس د ننه کړ ګوتې يې لندې شوې وويل، اې د خوراک صاحبه! دا څه شی دي؟ وويل: باران ورته رسېدلی، رسول الله (صلى‌الله عليه وسله) ورته وويل: ولې دې دغه د خوراک په سر نه دي اېښې ترڅو يې خلک ووينې؟ هر چا چې خيانت وکړ له ما څخه نه دی.

هغه څه چې د الحسبه قضاء پر موجوديت دلالت کوي د سالم بن عبدالله روايت دی چې پلار يې وويل: د الله تعالى د رسول (صلى‌الله عليه وسلم) په زمانه کې مې داسې کسان وليدل چې خواړه يې له وزن او کيل پرته پېرل، د دې په خاطر چې هلته پېرل شوي خواړه په همغه ځای کې ونه پلوري نو خلک وهل کېدل ترڅو چې هغه يې خپلو تم ځايونو ته انتقالول. رواه مسلم رقم (۱۵۲۷)

او د بازارونو نظارت د محتسب د دندو يوه برخه وه.

وروسته پيغمبر (صلى‌الله عليه وسلم) خپل يو شمېر ياران د دغه کار لپاره استخدام کړي، سعيد بن عاص بن اميه يې له فتحې وروسته د مکې بازار مسؤول وټاکه او دا په اسلام کې لومړی محتسب کارکوونکی دی، په همدې ډول عمر بن خطاب (رضي‌الله تعالى عنه) يې د مدينې د بازار مسؤول وټاکه.

دغه راز د محتسب يوه دنده د جمعې او جماعت لمانځه ته د خلکو هڅول و، د رسول (صلى‌الله عليه وسلم) حديث شريف دی چې «دا هوډ مې وکړ چې پر لمانځه امر وکړم، بيا د خلکو کورونو ته لاړ شم هغه کسان چې لمانځه ته نه حاضرېږي کورونه يې وسوځوم.»

په ښارونو کې دغه دنده والیانو ترسره کوله یا به یې د دغه کار لپاره کسان ګمارل، خو د دغه کسانو نومونه په مصادرو کې نه دي ذکر شوي. دې ته په کتو حسبه او احتساب د هر والي د دندو یوه برخه ده.

**په نبوي دوره کې د قضاء لپاره د ځای او وخت تشخیص :**

په نبوي دوره کې د قضاء لپاره ټاکلی ځای مشخص نه و او عموماً دعوه کوونکي نبي کریم (صلی‌الله علیه وسلم) ته مسجد ته راتلل او همدارنګه لېږل شویو استازو به هم خپلو موجوده او کاري ځایونو کې پرېکړې کولې.

دغه راز په هغه زمانه کې د قضاء لپاره ټاکلی وخت هم نه و، ځکه عدالت په وخت پورې مقید نه دی، ځکه کله چې ظلم او تېری په هر وخت کې پېښ شي، په چټک او ممکن وخت کې یې لیرې کول لازم دي.

او د هغه روایاتو څخه چې د ځای په نه مشخصولو دلالت کوي، د ابو هریره او زید بن خالد الجهني روایت دی، چې هغه کې داسې راغلي:«اې ګرانه انسه! سهار مهال د هغه ښځې لوري ته ولاړ شه، که چېرې یې اعتراف وکړ، نو رجم یې کړه». نو هغه وايي: چې سهار دی ورغلی او هغې ښځې اعتراف هم وکړ، نو رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د رجم کولو امر ورته وکړ او انس (رضي الله عنه) هم هغه ښځه رجم کړه. ( رواه البخاري رقم ۱۶۹۷)

**د دعوه کوونکو (جانبینو) ترمنځ سوله کول:**

نبي کریم (صلی‌الله علیه وسلم) به هم ځینې وختونه د دعوه کوونکو ترمنځ سوله کوله، لکه څنګه چې عبدالله بن کعب بن مالک د کعب (رضي‌الله عنه) څخه روایت نقل کړی، چې ده له ابن ابي حدرد څخه په مسجد نبوي کې د خپل پور غوښتنه وکړه، چې په دغه حالت کې د دوی دوو آوازونه دومره پورته شوه چې رسول الله (صلی‌الله علیه وسلم) په خپل کور کې د دوی آوازونه واورېدل، نو په دغه وخت کې رسول الله (صلی‌الله علیه وسلم) د اطاق پرده اوچته کړه، له کور څخه راووتی او آواز یې وکړ: « اې کعبه!» هغه وویل: لبیک اې د الله رسوله!، رسول الله (صلی‌الله علیه وسلم) دغه وخت وویل: «خپل د پور څخه دومره واخله» (یو معلوم مقدار ته یې اشاره وکړه)، کعب وویل: اې د الله رسوله! دغسې مې وکړل او بیا پیغمبر (صلی‌الله علیه وسلم) ابن ابي حدرد ته وویل: « ولاړ شه او دا اندازه یې پوره کړه».

او کله چې به دعوه کوونکي په سولې سره خوښ نه شول، نو بیا به یې په شرعي اصولو سره د دوی ترمنځ پرېکړه کوله، د عبدالله بن زبیر (رضي‌الله عنه) څخه روایت دی، چې فرمایي: د نبي کریم (صلی‌الله علیه وسلم) په حضور کې د انصارو څخه یو تن د زبیر (رضي‌الله عنه) سره د ویالې د اوبو اړوند جنجال شو او په دغه اوبو به د خرما ونې خړوبېدلې، نو انصاري وویل: چې اوبه پرېږده چې تېرې شي، خو زبیر (رضي‌الله عنه) نه ور پرېښودلې او دا جنجال یې هم د نبي کریم (صلی‌الله علیه وسلم) په مخکې وو، نو رسول الله (صلی‌الله علیه وسلم) زبیر (رضي‌الله عنه) ته وویل:«اې زبیره! ته خپلې ونې په خړوبې کړه او د هغه وروسته اوبه خپل ګاونډي ته ور خوشي کړه» خو هغه انصاري په غوسه شو او رسول الله (صلی‌الله علیه وسلم) ته یې وویل:« دا ستا د اکا زوی و؟» د رسول الله (صلی‌الله علیه وسلم) د څېرې رنګ تغیر شو او وویل: «اې زبیره! ته خپلې ونې په خړوبې کړه او بیا اوبه بندې کړه، ترڅو دېوالونو ته ورسېږي»، نو زبیر (رضي‌الله عنه) وویل: زما دې په الله سوګند وي، زه دا ګمان کوم چې دغه آیت (فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّى يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ [سُورَةُ النِّسَاء: ٦٥])

ژباړه: نه، اې محمده (صلی الله علیه وسلم)! ستا په رب قسم چې دوی هیڅکله مؤمنان کېدای نه شي، ترڅو چې په خپل منځي شخړو کې تا فیصله کوونکی ونه مني.

په دغه اړه نازل شوی دی.( رواه البخاري، حدیث شمېره: ۲۳۵۹)

**نور بیا...**

# د امام اعظم ابو حنیفه رحمه الله
# په اړه د امت د امامانو نظرونه

حشمت الله (میاخېل)[1]

په دې کې شک نشته چې د وفات شویو انسانانو تذکره او د ژوند حالات بیانول د هغوی یاد را ژوندی کوي، یاد یې لا څه داسې ده لکه هغوی چې پخپله بېرته را ژوندي کېږي. په عربي کې مقوله ده (مات میت والذکر یحییه) انسان مړ شو خو یاد یې بېرته دی را ژوندی کوي.

امام سفیان ثوري رحمه الله ویلي دي، (عند ذکر الصالحین تنزل الرحمة) د نېکانو او صالحانو د ذکر او یاد په وخت کې رحمت را نازلېږي.

د علماوو، عاملینو، مشایخو، صالحینو تذکره کول او د دوی د ژوند حالات بیانول، په زړونو کې فضائل را ټوکوي، نیتونه، اخلاق او کردار سموي، همتونه لوړوي او په علم او عمل کې د اخلاص جذبه رامنځته کوي.

إمام دار الهجرة امام مالک رحمه الله چې په (۱۷۹هـ ق) کې وفات شوی ویلي دي :له ما څخه د امام ابو حنیفه رحمه الله په اړه پوښتنه وشوه، ما ورته په خواب کې وویل، هغه مې داسې شخصیت وموند چې که چېرې وواېي دغه ستن د سرو زرو ده، کولای شي د خپل استدلال په قوت سره هغه ستن طلا ثابته کړي. (مناقب الإمام أبي حنيفة لابن حجر الهيثمي).

قاضي القضاة امام ابو یوسف رحمه الله چې په (۱۸۲هـ ق) کې وفات شوی ویلي دي :

خلکو به ویل چې الله (جل جلاله) د امام ابو حنیفه رحمه الله شخصیت په علم، سخاوت، ایثار او قرآني اخلاقو مزین کړی دی. (ابوحنیفة النعمان إمام الأئمة الفقهاء للشیخ وهبي سلیمان غاوجي).

امیرالمؤمنین في الحدیث امام سفیان ثوري رحمه الله چې په (۱٦۱هـ ق) کې وفات شوی ویلي دي : زما سترګو د امام ابو حنیفه رحمه الله نظیر نه دی لیدلی. (ابوحنیفة النعمان إمام الأئمة الفقهاء للشیخ وهبي سلیمان غاوجي).

امام شافعي رحمه الله چې په (۲۰٤هـ ق) کې وفات شوی ویلي دي :هر څوک چې د فقهې د زده کړې په نیت له کوره راوتلي د امام ابو حنیفه رحمه الله د علم له دسترخوان څخه یې ګټه اخیستې او څوک له امام ابو حنیفه رحمه الله نه خورا عاقل سړي نه دي زېږولي. (ابوحنیفة النعمان إمام الأئمة الفقهاء للشیخ وهبي سلیمان غاوجي).

امام احمد بن حنبل رحمه الله چې په (۲٤۱هـ ق) کې وفات شوی ویلي دي :ابو حنیفه رحمه الله په علم، تقوا، زهد او د آخرت په غوره کولو کې هغه مقام لري چې هیڅوک ورته نشي رسیدلای، هغه په درو ووهل شو ترڅو منصور ته نږدې شي، مګر هغه ونه منل د دالله (جل جلاله) رحمت دې پرې وي او ترې راضي دې شي. (ابوحنیفة النعمان إمام الأئمة الفقهاء للشیخ وهبي سلیمان غاوجي).

إمام الجرح والتعدیل یحیی بن سعید القطان رحمه الله چې په (۱۹۸هـ ق) کې وفات شوی ویلي دي: پر الله (جل

۱- لیکوال

جلالـه) قسم خورم چې امـام ابو حنيفـه رحمه اللّٰه په قرآن او سنت کې د دې امت خورا عالم شخصيت دی.
(ابوحنيفة النعمان إمام الأئمة الفقهاء للشيخ وهبي سليمان غاوجي) .
امام سفيان ثوري رحمـه الله چې پـه (۱٦۱هـ ق) کې وفات شوی ويلي دي :څوک چې لـه ابو حنيفـه رحمـه الله سره مخالفت کـوي دې تـه محتاج دی چې ارزښت يې له هغه نـه ډېر او علـم يـې د هغه له علم څخـه خورا زيات وي او دا لـرې خبره ده چې داسې څـوک پيدا شي. (مناقب الموفق).
امام احمـد بـن حنبـل رحمـه الله چې پـه (۲٤۱هـ ق) کې وفات شـوی ويلي دي:
امام احمـد بـن حنبـل رحمـه الله بـه لـه امام ابو حنيفه رحمـه الله څخه ډېره يادونـه کوله، هغـه ته به يې بخښنه غوښته او د ستونزو پـه وخت بـه يـې ژړل او ځان تـه بـه يې د امام صاحب د ستونزو پـه يادولـو سره چې د قضاء منصب نـه منلـو پـه نتيجـه کې محبـوس شـوی و، ډاډ او تسل ورکاوه.
(انظر الجواهر المضية في تراجم الحنفية للشيخ عبد القادر القرشي).
ابن عبدالبر رحمـه الله چې پـه (٤٦۳هـ ق) کې وفات شـوی وايي :امـام ابـو داؤد سجستاني رحمـه الله چې پـه (۲۷۵هـ ق) وفات شـوی ويلي دي، ابـو حنيفـه امـام و، مالـک امام و، شافعي امام و.
( انظـر الانتقـاء في فضائـل الثلاثـة اللأئمـة الفقهـاء ، ففيـه أقـوال كثـيرة الأئمـة في الثناء على الإمام رحمـه الله تعالى).

موفق لـه اسحق بـن بهلـول نـه روايـت کـوي چې وويـل: له سفيان ابـن عينيه رحمـه الله څخه مې واورېدل چې وويل: سترګو مې د ابو حنيفـه رحمـه الله نظير نـه دی ليدلی.
(ابوحنيفـة النعمان إمـام الأئمـة الفقهـاء للشيخ وهبي سليمان غاوجي).
موفق لـه هدبـه بـن عبدالوهاب څخـه روايت کـوي چې وويل: شـقيق بلخي رحمـه الله مـرو (د خراسان علاقـه ده) دی راغـی او مـوږ د هغـه مجلس تـه ورتلو او هغـه بـه د امام ابـو حنيفـه رحمـه الله ډېره يادونـه کولـه او پـه توصيـف کې بـه يې ډېر څـه ويل ورتـه مـو وويل، تـر څو پـورې مـوږ تـه ابـو حنيفـه رحمـه الله ستايې او په ستاينه کې مبالغـه کـوې؟! داسې خبره مـوږ تـه وکړه چې ګټه تـرې واخلـو! شـقيق بلخي رحمـه الله وويـل: افسـوس دی آيا د ابوحنيفـه رحمـه الله يادونـه او د هغـه د مناقبـو ذکر لـه ډېرو شـو اعمالـو څخه نـه ګڼئ؟! کـه چېرې تاسې هغه ليدلـی وای او ورسره ناسـت وای، هېڅکلـه بـه مو داسې نه ويـل. (مناقـب الموفـق).
بديل بـن قريـش چې پـه (۲۵۸هـ ق) کې وفـات شـوی ويلي دي: امـام اعمـش ابـو حنيفه رحمـه الله ته وويل که چېرې علـم او پوهـه پـه طلـب او ملاقـات وای، زه بـه لـه تـا څخـه ډېـر فقيـه وم، مګـر دا الهـي نعمـت دی چاته چې وغواړي ورکـوي يـې. (ابوحنيفة النعمـان إمام الأئمة الفقهاء للشيخ وهبـي سـليمان غاوجي).



# تأثیر زبان عربی بر اصطلاحات قضائی و حقوقی افغانستان

اجمل (ذهین)[1]

الحمد لله الذي أعزنا بلغة القرآن، فجعلها لنا لساناً مبيناً، والصلاةُ والسلامُ على مَنْ بعثهُ الله رحمة للعالمين، نبينا محمد وعلى آله و صحبه أجمعين .

مقدمه:

از آنجائیکه زبان عربی یکی از زبان‌های خانواده سامی می باشد و از بدو تکلم دارای ویژگی‌های همچون قواعد بوده که قبل از ظهور اسلام به پختگی خود از ناحیه تکلم نظم و نثر رسیده که میتوان از آن جمله اشعار امرئ القیس، عنترة ابن شداد، لبید ابن ربیعة و غیره را نام برد و خداوند متعال آخرین وحی خویش را که عبارت از قرآن کریم میباشد پیش از چهارده قرن به واسطه حضرت جبریل بر حضرت محمد مصطفی (صلی الله علیه وسلم) بر زبان عربی نازل نموده که معجزه دائمی و آخرین کتاب الهی میباشد ﴿وَإِنَّهُ لَتَنْزِيلُ رَبِّ الْعَالَمِينَ. نَزَلَ بِهِ الرُّوحُ الْأَمِينُ. عَلَى قَلْبِكَ لِتَكُونَ مِنَ الْمُنْذِرِينَ. بِلِسَانٍ عَرَبِيٍّ مُبِينٍ﴾. (سورت الشعرا ۱۹۲-۱۹۵)

حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) فصیح ترین انسان روی زمین بوده چناچه آن حضرت (صلی الله علیه وسلم) میفرماید: عن أبي هريرة رضي الله عنه قال " قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: (بُعثتُ بجوامع الكلم...) فرستاده شده ام به جوامع الکلام الحدیث و القرآن، خداوند متعال جمع از سخنان که سخنان آنحضرت مبین، مفصل و واضح بوده و کتاب خداوند که به بلند ترین مرتبه از بلاغت، فصاحت و أهداف انسانی بوده به او اعطاء نمود، به تمامی لهجات عرب حاکمیت سخن گفتن را داشت چناچه در جای دیگری میفرماید: ( أنا أفصح العرب بيدَ أني من القريش) من فصیح ترین عرب هستم علی رغم آنکه من از قبیله قریش هستم که در این حدیث اسلوب بلاغی مدح یشبه الذم را بکار برده است.

از آنجائیکه دین مبین اسلام در اکثر کشورهای همجوار جزیره عرب تأثیر داشته است و اقوام مختلف با زبان های متفاوت خویش گروه گروه به دین مبین اسلام مشرف شدند که تحت تأثیر زبان عربی قرار گرفته، از آنجمله زبانها میتوان زبان فارسی، ترکی، هندی، پشتو، اردو را نام برد که تحت تأثیر چشمگیر زبان عربی قرار گرفته، اصطلاحات عبادتی و دینی مانند صلاة، زکاة، حج، صدقه فطر، غسل، طهارت و غیره وارد زبان دری و پشتو شده که از این قبیل میتوان اصطلاحات قضائی و حقوقی را نام برد.

**تأثیر زبان عربی بر اصطلاحات قضائی و حقوقی:**

زمانیکه عرب ها کشور افغانستان را فتح نمودند و بسیاری از افغانها بزود ترین فرصت و بسرعت به دین اسلام گرویده و مسلمان شدند، ارتباطات بین زبان عربی و فارسی آغاز شد و حروف زبان عربی داخل زبان فارسی گردید، رسم الخط عربی بر زبان فارسی حاکم گردید، زبان عربی در مراحل مختلف مدارس ابتدائیه، متوسطه و عالی با علوم مختلفه آن تدریس و جزء لاینفک منهج تعلیمی و تحصیلی این مرز و بوم شد.

از آنجائیکه کشور های اسلامی متأثر از اصطلاحات قضائی در زبان عربی بوده و کشور ما هم از این تأثیر بی بهره نبوده چون در تمامی مراحل تعلیمی و تحصیلی مدارس و پوهنتون ها یعنی مدارس تعلیم دینی و تعلیم عصری پوهنتون ها تحت تأثیر بوده اصطلاحات قضائی ذیل را میتوان بطور مثال اشاره نمائیم:

---

۱- مدیر اسناد و ارتباط ریاست تحریرات ستره محکمه

**قاضی:** کلمه قاضی از اصل عربی قضی یقضی قضاءً گرفته شده است که اسم فاعل آن قاضی میباشد، قاضی به کسی گفته میشود که از جانب دولت و یا حاکم تعین میشود تا دعاوی و خصومت ها را مطابق شرع و قانون فیصله و حکم قاطع خود را بین مردم صادر کند و جمع آن قُضاة (قُضات) میباشد، قرآن کریم در این مورد اشاره میکند، (قَالُوا لَنْ نُؤْثِرَكَ عَلَى مَا جَاءَنَا مِنَ الْبَيِّنَاتِ وَالَّذِي فَطَرَنَا فَاقْضِ مَا أَنْتَ قَاضٍ إِنَّمَا تَقْضِي هَذِهِ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا)

ترجمه:( ساحران به فرعون پاسخ دادند، که تو ما را هرگز بر این معجزات آشکار که به ما آمده و بر خدای که ما را آفریده مقدم نخواهیم داشت، پس در حق ما هر چه توانی حکم بکن که هر قضاوت و ظلمی کنی همین حیات دو روزه دنیاست.)

**قضیّةُ و یا هم قضیه:** قضیه کلمه عربی است که عبارت از مسأله متنازع فیها بوده و نزد قاضی و یا قضاة غرض بحث، حل و فصل پیشکش میشود، تا در باره آن تصمیم گرفته شود که جمع آن قضایا میشود.

**محکمه:** کلمه عربی بوده از اصل حَکَمَ گرفته شده و محکمه عبارت از مکان انعقاد، فیصله و حکم از جانب هیئت قضائی و یا به عبارت دیگر مکان حل و فصل قضیه مطروحه در پیشگاه هیئت قضائی را محکمه گویند، که جمع آن محاکم میشود.

**حُکم:** در اصل کلمه عربی بوده که به معنی اطلاق قول به حلال و حرام و یا به جواز و عدم جواز باشد؛ در قضاء اصدار فیصله و یا حل و فصل نمودن قضیه را حُکم گویند.

**مُدَّعِيٌ:** در اصل مدعی کلمه عربی بوده اسم فاعل از ادَّعی گرفته شده، دعوا کننده مخاصم یکی از اطراف قضیه که رفع دعوی میکند در پیشگاه قضاء.

**مدعی علیه:** کلمه عربی ترکیبی است، که به معنی رفع دعوی بالای کسی یا کسیکه رفع دعوی غرض اثبات حق، مالی و یا حق جنائی صورت گیرد، مدعی علیه گویند و همچنان بجای مدعی علیه میتوان کلمه مُدعی را بکار برد که عکس مُدَّعِيٌ میباشد.

**شهادة و یا شهادت:** در اصل کلمه عربی از مصدر شَهِدَ که عبارت از خبر نمودن آنچه را که می بینی و یا تائید نمودن، یا رد نمودن آنچه را میدانی و شهادت یکی از اسباب و دلائل و بینه در قضاء همانا أقوال و سخنان شاهدان در پیشگاه هیئت قضائی میباشد، که فاعل آن شاهد و جمع آن شهود بوده.

**قرار:** در لغت به معنی مکان منخفض و پایان بوده که در آن آب جمع میشود. در اصطلاح آن موضوع و مسأله ای که به آن رای و نظر، تصمیم سکون و استقرار پیدا میکند .

**تفریق:** از مصدر فَرَقَ گرفته شده و به معنی جدا ساختن و جدا نمودن است، در اصطلاح جدا نمودن زن از شوهرش توسط قاضی را تفریق گویند.

**محکوم له:** شخصی است که به نفع او حکم شده باشد.

**محکوم علیه:** شخصی است که به ضرر او حکم صادر شده باشد.

**محکوم به:** آنچه که موضوع حکم قرار گرفته شده باشد.

**طریق حکم:** یعنی روش فیصله و حکم.

**قضاء:** حکم است توسط قاضی به الفاظ و کلمات مخصوص حکمتُ، قضیتُ و الزمتُ و... به صورت قطع صادر میشود.

**قضای بالزام:** به مفهوم حکم بر ثبوت مدعی بها است.

**قضای بالترک:** به مفهوم حکم بر عدم اثبات است.

**استیناف:** به این معنی است که یکی از طرفین دعوی به حکم صادره از محکمه ابتدائیه قناعت ننموده، شکایت و اعتراض خود را به محکمه استیناف تقدیم می کند.

**أهل خبره :** اشخاص خبیر و مسلکی است که در رشته های خاص دارای تخصص یا تجربه کافی باشد.

**استدعا:** درخواست حق توسط عریضه رسمی است.

**المصادر و المراجع:**

القرآن الکریم
الحدیث الشریف
المعجم المعانی

# په ټولنه کې

# د حدودو او تعزیراتو اهمیت او تأثیرات

مفتي فیض الله (فیاض)[1]

الحمدلأهله والصلوة على أهلها، أما بعد:

دا چې د اسلام سپېڅلی دین یوازې د یو څو عقایدو او اعمالو مجموعه نه ده، بلکې په انساني معاشره کې د اسلام مقدس دین د ټول بشریت د ښه ژوند تېرولو د پاره یوه کامله، ضابطه او د ټولو مخلوقاتو د حقوقو د تحفظ یوه استواره او بشپړه تګلاره ده، چې د ژوند پر ټولو برخو احاطه لري.

څرنګه چې انسان طبعا جنایاتو ته میلان لري، یوازې انبیاء علیهم السلام دي چې د سالم عقل په درلودلو سره پر طبیعي غوښتنو غالب دي او دا هم یو څرګند حقیقت دی چې د ټولنې اکثریت عامه امتونه جوړوي، اړتیا و چې د انساني ماحول د تحفظ او تأمین په خاطر یو کامل او مکمل قانون رامنځته شي، تر څو وکولای شي چې انساني معاشره چې پر عطوفت، نرمۍ او اخوت ولاړه او د ټولو مخلوقاتو حقوق تأمینوي وساتي او دا ښایسته ټولنه په یوه حیواني چاپیریال چې د ظلم، استبداد، تېري او تجاوز پر محور را ګرځي بدله نه شي.

د اسلام د مبارک دین اصول او هدایت د جرمونو په مخنیوي کې د سکندر د سد (بند) په شان دی، د جرمونو د مخنیوي لپاره پر معقولو تګلارو مشتمل دی چې په عملي کولو سره یې سل په سلو کې یوه ټولنه پر امنه کېدلای شي.

أن تكون العقوبة تحيث تمنع الكافة عن الجريمة قبل وقوعها – فإذا ما وقعت الجريمة كانت العقوبة بحيث تؤدب الجاني على جنايته وتزجز غيره عن التشبه به وسلوك طريقه.

ج.١ ص ٣٥٥ التشريع الجنائي ج .٤ ص ١١٢ فتح القدير

څرنګه چې جرمونه په خپل منځ کې کافي توپیر لري، ځینې یې واړه او ځینې یې لوی وي؛ ځکه نو د اسلام مقدس دین هم د جریمې په تناسب ټاکلي حدود تعین کړي او ځینې نور جنایتونه چې د وخت، جاني او جنایت له مخې تغیر کوي هغه یې د قاضي رایې ته مفوض کړي، چې د جاني، جنایت او وخت ته په کتو د ټولنې د اصلاح په نظر کې نیولو سره د خپل صوابدید مطابق جاني ته تعزیر ورکول کېږي.

العقوبات المقررة لجرائم الحدود وجرائم القصاص والدية مقدرة معينة فهي عقوبات لازمة ليس للقاضي أن يستبدل بها غيرها وليس له أن ينقص منها أو يزيد فيها ولو كانت بطبيعتها ذات حدين كالجلد لأن تقديرها وتعيينها يجعلها في حكم العقوبة ذات الحد الواحد.

وأما التعازير فهي عقوبات غير مقدرة فللقاضي أن يختار من بين العقوبة الملائمة وهي في الغالب ذات حدين وللقاضي أن ينزل بالعقوبة إلى حدها الأدنى أو يرتفع بها إلى الحد الأعلى. ص ٤٠٠ التشريع الجنائي

وللقاضي أن يعاقب بعقوبة واحدة أو بأكثر منها وأن يخفف العقوبة أو يشدّدها إن كانت العقوبة ذات حدين ج.١ ص. ٤٠٠ التشريع الجنائي

خو له بده مرغه ځینې ساده لوحه خلق جهلا او ځینې نور بیا تر خوړو شعارونو لاندې عناداً د اسلام د مبارک دین په یاده حمایوي تګلاره داسې نیوکه کوي چې

---

١- د سترې محکمې د حقوقي او قضائي مطالعاتو رئیس

د اسلام په مبارک دین کې بشري عطوفت او انساني کرامت (نعوذ بالله من ذلک) تر پښو لاندې شوی، ځکه لومړی طبقې د اسلام د سپېڅلي دین مزایاوې ځکلې نه دي او وروستی یې بیا د خپلې عقیدوي عقدې په اساس د امت اضلال (گمراه کولو) ته انسانان هڅوي.

حال دا چې د بشریت حقیقي بقاء د نوموړي د سر، مال او عرض (عزت) د تحفظ سره تړلې ده، د اسلام مقدس دین د انسان پر سر، مال او عرض تجاوز ممنوع گڼي او کوونکی یې د سزا مستحق بولي.

د اسلام په سپېڅلي دین کې سزاگانې پر درې ډوله وېشل شوي:

**لومړی ډول سزاگانې:**

لومړی ډول هغه سزاگانې دي چې د شارع له لوري یې حدود تعین شوي، امت یې د بدلېدو او بخښلو واک نه لري، چې یادې سزا ته په شریعت مطهره کې حد ویل کېږي.

النوع الأول من الجرائم الماسة بكيان المجتمع يشمل جرائم الحدود التامة... وقد وضعت الشريعة لهذه الجرائم عقوبات مقدرة ليس للقاضي أن ينقص منها ويزيد فيها أو يستبدل بها غيرها فمن ارتكب جريمة منها اصابته العقوبة المقررة لها وليس لولي الأمر أن يعفو عن الجريمة أو العقوبة بحال من الأحوال. ج.١ ص. ٣٥٧ التشريع الجنائي

حد پر پنځه ډوله دی:

حد الزنا.

حدالسرقة.

حد الشرب.

حد القذف.

حد قطع الطريق.

**د لومړني حد (حد الزنا) گټه:**

په لومړني ډول حد د نسب تحفظ کېږي، چې له امله یې یوه سالمه او مسؤوله کورنۍ منځته راځي، د انساني نسل د ضیاع مخنیوی کېږي، هر بچی د پلار تر ترحم او عطوفت لاندې لويېږي، چې وروسته د پلار د ضعف په وخت کې د پلار تکیه جوړېږي، که یاد تحفظ نه وي نو اولادونه به پر ښځینه قشر چې تر نارینه وو طبعا ضعیفه دي بار وي او دوی به یې ساتنې ته مجبور وي، له بله پلوه به ټولنه بې مسؤولیته وای؛ ځکه کله چې فامیلي (کورنۍ) ژوند وي ټوله کورنۍ ځان د کورنۍ د هر غړي په باره کې با مسؤولیته گڼي، تربیه یې کوي او د جرایمو د تر سره کولو څخه یې مخنیوی کوي.

فالزنى اعتداء على نظام الأسرة ولو لم يعاقب عليه لكان لكل امرئ أن يشارك الآخر في أيّ امرأة شآء- وأن يدّعي من يشاء أو يتنسل من يشآء من الأبناء ولانتهى الأمر بغلبة الأقوياء وهزيمة الضعفاء وتضييع الأنساب وشقاء الآباء والأبناء أخيراً. ج.١ ص.٣٦٠ التشريع الجنائي.

**د دویم حد ( حدالسرقة) گټه:**

په دویم ډول حد کې د مالونو چې د انسان معشوقه غونډې ده او طبعا د انسان میلان ور ته شته تحفظ کېږي، که په ټولنه کې یاد حد نه وای لټو او حریصو انسانانو به د نورو مالونه اخیستلای او هغوی به د هغې مینې له امله چې د مال سره یې لرل عکس العمل ښوده او خبره به قتل آن یوې لویې فتنې او قتال ته چې د دنیا او آخرت په لحاظ غټ جرم دی رسېدل.

والمقصد الأصلي من شرعه (أي الحد) الانزجار عما يتضرر به العباد- في النفس والعرض والمال ففي حد الزناء صيانة النفس وفي حد الفذف صيانة العرض وفي حد السرقة صيانة المال. ج.٢ ص.٤٨٥ الهداية مع شرحه العيني

**د درېیم حد (حد الشراب) گټه:**

په درېیم ډول حد کې د عقل تحفظ کېږي او د جرایمو مخنیوی په کېږي؛ ځکه د نیشې په وخت کې انسان د سالم عقل څخه بې برخې وي، کله چې انسان د سالم عقل څخه بې برخې شي نو نه خپل حقوق او نه د نورو حقوق درک کولای شي، د مور، پلار او نور مشرانو قدر او پر اولادونو او نورو رحم نه لري، د زوجیت د حقوقو رعایت نه کوي، آن عامه ټولنه ور څخه متضرره کېږي، چې له امله یې لوی فساد منځته راځي.

أما من يتناول المسكر مختارا بغير عذر أو يتناول دواء لغير حاجة فيسكر منه فإنه مسؤول عن كل جريمة

يرتكبها أثناء سكره سواء ارتكبها عامدا أومخطئاً ويعاقب بعقوبتها لأنه أزال عقله بنفسه وبسبب هو في ذاته جريمة فيتحمل العقوبة زجراً له. ج.١ ص.٣٤٠ التشريع الجنائي

**د څلورم حد (حد القذف) ګټه:**

په څلورم ډول حد کې د انسانانو د عرض، آبرو او عزت تحفظ کېږي، څرنګه چې انسان اشرف المخلوقات دی، الله جل جلاله فرمايي:

«وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ وَحَمَلْنَاهُمْ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَرَزَقْنَاهُمْ مِنَ الطَّيِّبَاتِ وَفَضَّلْنَاهُمْ عَلَى كَثِيرٍ مِمَّنْ خَلَقْنَا تَفْضِيلا﴾ [الإسراء: ٧٠]»

ژباړه: دا خو زموږ پېرزوينه ده چې بنيادم ته مو لويي ورکړه، په وچه او لمده کې مو سپرلۍ ورکړې، له پاکو شيانو څخه مو روزي ور په برخه کړه او پر خپلو زياترو مخلوقاتو مو ښکاره لوړتيا ور وبښله.

د انسان د ياد شرافت د ساتنې د پاره حکيم ذات جل جلاله يوه سالمه تګلاره را لېږلې ده تر څو انسانان يو پر بل متجاوز نه شي او ياد شرافت ته يې بې ځايه صدمه و نه رسيږي.

**د پنځم حد (حد قطع الطريق) ګټه:**

په پنځم ډول حد سره د تجارت تحفظ کېږي، د بغاوت او ظلم مخنيوی په کېږي، که چيرې ياد حد نه وي نو لويې لارې به له مصئونيت څخه بې برخې پاتې شي، چې په پايله کې به يې تجارت له سکوت سره مخ شي، چې پايله يې يوه محتاجه او اغيارو ته لاس غزونکې ټولنه را اوځي، د ياد حد د اقامې په وخت امن قايمېږي چې ټولنه د ياد امن څخه په استفاده په اجتماعي، مدني او تجارتي ژوند کې په ښه شکل سره وده کولای شي.

**د لومړي ډول حد د اجرا کيفيت:**

حد الزنا پر دوه ډوله ده:

د هغه حر (آزاد) انسان د پاره چې واده نه لري د اسلام مقدس دين د لاندې نص په اساس سل درې حد ټاکلی دی:

«الزَّانِيَةُ وَالزَّانِي فَاجْلِدُوا كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مِائَةَ جَلْدَةٍ وَلَا تَأْخُذْكُمْ بِهِمَا رَأْفَةٌ فِي دِينِ اللَّهِ إِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَلْيَشْهَدْ عَذَابَهُمَا طَائِفَةٌ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ» (سورة النور، الآية: ٢)

ژباړه: زنا کاره ښځه او زنا کار سړی، له دواړو څخه هر يو سل دُرې ووهئ، پر دوی باندې د زړه سوي احساس دې د الله د دين په باب په تاسې کې نه پارېږي، که تاسې پر الله تعالیٰ او د اخرت په ورځ باندې ايمان لرئ. همدا راز هغو ته د سزا ورکولو په وخت دې د مؤمنانو يوه ډله موجوده وي.

او د هغه چا د پاره چې واده لري، بيا د لاندې منسوخ التلاوة نص په اساس رجم دی:

قال الزناء يثبت بالبينة والإقرار... فالبينة أن تشهد أربعة من الشهود على رجل وامرأة بالزناء... فإذا بينوا ذلك وقالوا رأيناه وطئها في فرجها كالميل في المكحلة وسأل القاضي عنهم فعدلوا في السر والعلانية حلم بشهادتهم... والإقرار أن يقر البالغ العاقل على نفسه بالزنا أربع مرات في أربعة مجالس من مجالس المقر كلما أقر ردّه القاضي فإذا تم إقراره... لزم الحد. ج.٢ ص.٤٨٥، ٤٨٦

**د دويم ډول حد د اجرا کيفيت:**

په حد السرقت کې لومړی ځل د سارق ښی (راسته) لاس د لاندې آيت شريف په اساس په لومړي بند کې پرې کېږي: ويقطع يمين السارق من الزند ويحسم...

«وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوا أَيْدِيَهُمَا جَزَاءً بِمَا كَسَبَا نَكَالاً مِنَ اللَّهِ وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ. [المائدة: ٣٨]»

که ياد کس بيا غلا تکرار کړي دويم ځل يې چپه پښه پرې کېږي.

فإن سرقه ثانياً قطعت رجله اليسرى فإن سرق لم يقطع وخلّد في السجن حتى يتوب. ج.٢ ص.٥٢٦ الهداية

**د درېيم ډول حد د اجرا کيفيت:**

په حد الشرب کې د شرابو څښونکی د لاندې احاديثو مبارکو او د اجماع د صحابه کرام رضوان الله تعالی عليهم اجمعين په اساس اتيا درې وهل کېږي:

«١٠٥٤٧ - حَدَّثَنَا يَزِيدُ، أَخْبَرَنَا ابْنُ أَبِي ذِئْبٍ، عَنِ الْحَارِثِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِذَا سَكِرَ فَاجْلِدُوهُ، ثُمَّ إِنْ سَكِرَ فَاجْلِدُوهُ، ثُمَّ إِنْ سَكِرَ فَاجْلِدُوهُ، ثُمَّ إِنْ عَادَ الرَّابِعَةَ فَاضْرِبُوا عُنُقَهُ "»

«مسند أحمد» (١٦/ ٣٢٢ ط الرسالة):
حضرت ابوهریره (رضی الله عنه) فرمايي، چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) وويل: كه هغه په شرابو اخته شو، نو په دُرو يې ووهئ او"كه په شرابو اخته وي، نو په دُرو ووهئ، بيا كه څلورم ځل راشي، نو سر يې پرې كړئ."
«سنن أبي داود ت الأرنؤوط» (٦/ ٥٣٥):
«٤٤٨٥ - حدَّثنا أحمدُ بنُ عبدَة الضَّبِّيُّ، حدَّثنا سفيانُ، قال: الزهريُّ أخبرنا عن قَبِيصَةَ بن ذؤيب، أن النبيَّ -صلَّى الله عليه وسلم- قال: "مَنْ شَرِبَ الخمر فاجلِدُوه، فإن عادَ فاجلِدُوه، فإن عاد فاجلِدوهُ، فإن عادَ في الثالثَةِ أو الرابِعَة فاقتُلُوه" فأتِيَ برجُلٍ قد شَرِبَ فجلَدَه، ثم أُتي به فَجَلَدَه، ثم أُتي به فجَلَدَهُ، ثم أُتي به فجَلَدَه، ورُفِعَ القتلُ، وكانت رخصةً.»
سنن ابوداؤد الارناوت (٦/٥٣٥)
ژباړه: كه چا شراب وڅښل په دُرو يې ووهئ، كه بيا يې وڅښل په دُرو يې ووهئ، كه بيا يې دا عمل وكړ په دُرو يې ووهئ، كه څلورم ځل يې دا عمل وكړ تاسو يې قتل كړئ.
«ولنا قول علي رضي الله عنه – انه ذا شرب سكر واذا سكر هذى واذا هذى افترى وعلى المفتري ثمانون جلدة رواه الدارقطني و مالك بمعناه وعليه اجماع الصحابه»
« تبيين الحقائق ( ٣/١٩٨)»
« قوله: وحد السكر، و الخمر ولو شرب قطرة ثمانون سوطا) لاجماع الصحابة – رضي الله عنهم - روى البخاري من حديث « السائب بن يزيد قال كنا نأتي بالشارب على عهد رسول الله – صلى الله عليه و سلم- وأبي بكر و صدر من خلافة عمر – رضي الله عنهما- فنقوم عليه بأيدينا و نعالنا و أرديتنا حتى كان آخر إمرة عمر- رضي الله عنه- فجلد أربعين حتى عتوا وفسقوا جلد ثمانين» وحاصل مافي فتح القدير أنه- عليه الصلاة والسلام – لم يسن فيه عددا معينا ثم قدره أبو بكر و عمر- رضي الله عنهما- بأربعين ثم اتفقوا على ثمانين.»
«فتح القدير (٣١٠/٥)»

**د څلورم ډول حد د اجرا کيفيت:**

په حد القذف كې حر قاذف د لاندې آيت شريف او فقهي مسايلو په اساس په اتيا دُرو وهل كېږي:
«تفشير مقاتل بن سليمان» (٣/ ١٧١):
«وَالَّذِينَ يَرْمُونَ الْمُحْصَنَاتِ ثُمَّ لَمْ يَأْتُوا بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاءَ فَاجْلِدُوهُمْ ثَمَانِينَ جَلْدَةً وَلا تَقْبَلُوا لَهُمْ شَهادَةً أَبَداً وَأُولئِكَ هُمُ الْفاسِقُونَ [النور: ٤]»
وإذا قذف الرجل رجلاً أو امرأة محصنة بصريح الزناء وطالب المقذوف بالحد حده الحاكم ثمانين سوطاً أن كان حراً. ج.٢ ص.٥٠٧ الهداية
او څوك چې په پاك لمنو ښځو باندې تور ولګوي، بيا څلور شاهدان تېر نه كړي، هغوی اتيا دُرې ووهئ، د هغو شاهدي هيڅكله مه منئ او هغوی پخپله فاسقان دي.

**د څلورم ډول حد د اجرا کيفيت:**

په حد قطع الطريق كې څلور ډوله سزاګانې دي:
كه قاطع الطريق يوازې خلك بېرولي وي، نه يې مال اخيستی وي او نه يې قتل كړی وي تر تعزير وروسته دې تر هغه وخته بندي شي چې عملا يې توبه معلومېږي؛ (د صالحانو علامې پر ښكاره كېږي) يا دې تر هغو په محبس كې بندي شي چې مرګ ورته راشي.
كه يې يوازې دومره مال اخيستی وي، چې في نفر د سرقې نصاب ته رسېږي، خو قتل يې نه وي كړی، بيا به يې ښی (راسته) لاس او چپه پښه پرې كېږي.
كه يې يوازې قتل كړی و، (مال يې نه و اخيستی)، بيا قتل كېږي.
او كه يې مال هم اخيستی و او قتل يې هم كړی و، بيا د وخت امام د شپږو سزاګانو وركولو اختيار لري:
**لومړی:** چې لومړی يې راسته لاس او چپه پښه ور پرې كړي، وروسته يې قتل كړي.
**دویم:** چې لومړی يې راسته لاس او چپه پښه ور پرې كړي، وروسته يې وزړوي.
**دریيم:** چې لومړی يې راسته لاس او چپه پښه ور پرې كړي، بيا به يې قتل كړي وروسته به يې وزړوي.
**څلورم:** چې لومړی يې قتل كړي وروسته يې وزړوي.
**پنځم:** چې يوازې (بې له قطعې او زړولو) يې قتل كړي.
**شپږم:** چې يوازې (بې له قطعې) يې ژوندی وزړوي، تر څو مړ شي او وروسته يې تر درو ورځو پرېږدي.

«حاشية ابن عابدين = رد المحتار ط الحلبي» (٤/ ١١٥):
«(وَ) الْحَالَةُ الرَّابِعَةُ (إنْ قَتَلَ وَأَخَذَ) الْمَالَ خُيِّرَ الْإِمَامُ بَيْنَ سِتَّةِ أَحْوَالٍ: إنْ شَاءَ (قَطَعَ) مِنْ خِلَافٍ (ثُمَّ قَتَلَ أَوْ) قَطَعَ ثُمَّ (صَلَبَ) أَوْ فَعَلَ الثَّلَاثَةَ (أَوْ قَتَلَ) وَصَلَبَ أَوْ قَتَلَ فَقَطْ (وَصَلَبَ فَقَطْ) كَذَا فَصَّلَهُ الزَّيْلَعِيُّ وَيُصْلَبُ (حَيًّا) فِي الْأَصَحِّ وَكَيْفِيَّتُهُ فِي الْجَوْهَرَةِ (وَيُبْعَجُ) بَطْنُهُ (بِرُمْحٍ) تَشْهِيرًا لَهُ وَيُخَضْخِضُهُ بِهِ (حَتَّى يَمُوتَ وَيُتْرَكَ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ مِنْ مَوْتِهِ)، ثُمَّ يُخَلَّى بَيْنَهُ وَبَيْنَ أَهْلِهِ لِيَدْفِنُوهُ» (الدر المختار)

«إِنَّمَا جَزَاءُ الَّذِينَ يُحَارِبُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَيَسْعَوْنَ فِي الْأَرْضِ فَسَاداً أَنْ يُقَتَّلُوا أَوْ يُصَلَّبُوا أَوْ تُقَطَّعَ أَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُمْ مِنْ خِلَافٍ أَوْ يُنْفَوْا مِنَ الْأَرْضِ ذلِكَ لَهُمْ خِزْيٌ فِي الدُّنْيا وَلَهُمْ فِي الْآخِرَةِ عَذابٌ عَظِيمٌ [المائدة: ٣٣]»

ژباړه: کوم خلك چې له الله (جل جلاله) او د هغه له پیغمبر (صلی الله علیه و سلم) سره جنګیږي او په ځمکه کې د دې لپاره منډې تړې کوي چې فساد را ولاړ کړي، نو د هغو سزا دا ده چې ووژل شي، یا په دار وځړول شي، یا یې لاسونه او پښې ردو بدلې غوڅې کړای شي، یا له وطنه وشړل شي. دا ذلت او سپکاوی خو د هغو لپاره په دُنیا کې ده او په اخرت کې د هغو لپاره له دې څخه هم لویه سزا ده.

**دویم ډول سزاګانې:**

دویم ډول هغه سزاګانې دي چې د شارع له لوري یې تعین شوی وي، البته امت یې د بخښلو اختیار لري، لکه خالص حقوق العباد یا هغه چې غالب پکې حقوق العباد وي، د مثال په توګه قصاص، که مجنی علیه جاني ته عفوه وکړي، یا دیت وغواړي، یا سوله وکړي، یا د قتل په صورت کې د مقتول ورثه قاتل ته عفوه وکړي، یا دیت وغواړي یا صلح وکړي قصاص ساقطیږي.

الثاني من الجرائم ... جرائم القصاص والدية وهي جرائم القتل والجرح سواء كانت عمداً أو خطأ أو هي على وجه التحديد ١.القتل العمد ٢. القتل شبه العمد ٣. الخطأ ٤. الجرح العمد ٥. الجرح الخطأ وقد وضعت الشريعة لهذه الجرائم عقوبتين هما القصاص والدية في حالة العمد والدية في حالة الخطأ وحرمت على القاضي أن ينقص من هاتين العقوبتين أو يزيد فيها أو يستبدل بهما غيرهما كما حرمت على ولي الأمر أن يعفو عن الجريمة أو العقوبة وعلى هذا فمن ارتكب جريمة من هذه الجرائم أصابته العقوبة المقررة لها دون نظر إلى ظروف الجاني وشخصيته وإذا كانت الشريعة قد حرمت العفو على ولي الأمر فإنها قد أباحته للمجني عليه أو وليه فإذا عفى المجني عليه أو وليه في العمد سقط القصاص وحلت محله الدية إذا كان العفو على الدية فإذا كان العفو مجاناً سقطت الدية أيضاً. ج.١ ص.٣٥٧ التشريع الجنائي

الله جل جلاله فرمایي:

«يا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِصاصُ فِي الْقَتْلى الْحُرُّ بِالْحُرِّ وَالْعَبْدُ بِالْعَبْدِ وَالْأُنْثى بِالْأُنْثى فَمَنْ عُفِيَ لَهُ مِنْ أَخِيهِ شَيْءٌ فَاتِّباعٌ بِالْمَعْرُوفِ وَأَداءٌ إِلَيْهِ بِإِحْسانٍ ذلِكَ تَخْفِيفٌ مِنْ رَبِّكُمْ وَرَحْمَةٌ فَمَنِ اعْتَدى بَعْدَ ذلِكَ فَلَهُ عَذابٌ أَلِيمٌ. [البقرة: ١٧٨]»

ژباړه: اې مؤمنانو! ستاسې لپاره د قتل په دعواوو کې د قصاص حکم لیکل شوی دی، که اصیل (آزاد) قاتل وي له هماغه اصیل (آزاد) څخه دې بدله واخیستل شي او که غلام قاتل وي، نو هماغه غلام دې ووژل شي، که ښځه قاتله وي، نو له هماغې ښځې څخه دې قصاص واخیستل شي. هو که له کوم قاتل سره د هغه (دیني) ورور یو څه نرمي کولو ته تیار وي، نو په ښه وجه دې د وژنې د بدلې په اړه اقدام وشي او پر قاتل باندي لازمه ده چې په صداقت سره خوني ورکړي. دا ستاسې د رب له خوا اسانتیا او رحمت دی، که له دې څخه وروسته څوك تیری وکړي، د هغه لپاره دردوونکی عذاب دی.

«وَكَتَبْنا عَلَيْهِمْ فِيها أَنَّ النَّفْسَ بِالنَّفْسِ وَالْعَيْنَ بِالْعَيْنِ وَالْأَنْفَ بِالْأَنْفِ وَالْأُذُنَ بِالْأُذُنِ وَالسِّنَّ بِالسِّنِّ وَالْجُرُوحَ قِصاصٌ فَمَنْ تَصَدَّقَ بِهِ فَهُوَ كَفَّارَةٌ لَهُ وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِما أَنْزَلَ اللَّهُ فَأُولئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ. [المائدة: ٤٥]»

ژباړه: په تورات کې موږ پر یهودیانو دا حکم لیکلی ؤ چې د نفس په بدل کې نفس، د سترګې په بدل کې سترګه، د پزې په بدل کې پزه، د غوږ په بدل کې غوږ، د غاښ په بدل کې غاښ او د ټولو زخمونو لپاره برابره بدله ده. نو که څوك قصاص صدقه کړي، هغه د هغه لپاره کفاره ده او کوم خلك چې د الله د نازل کړي قانون سره سمه

فیصله ونه کړي، هغوی ظالمان دي.
او په قصاص کې الله (جل جلاله) د ټولنې نجات او حیات ایښی، الله (جل جلاله) فرمایي:
«وَلَكُمْ فِي الْقِصَاصِ حَيَاةٌ يَا أُولِي الْأَلْبَابِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ. [البقرة: ۱۷۹]»
هوښیارانو! ستاسې لپاره په قصاص کې ژوند دی، په کار ده چې له دې قانون څخه سرغړونه ونه کړئ.

**دریيم ډول سزاګانې:**

دریيم هغه سزاګانې دي چې د شارع له لوري یې تعین نه دی شوی، بلکې تعین یې د وخت قاضي ته سپارل شوی دی، چې د وخت قاضي به جاني او د جاني جنایت ته په کتو د خپل صوابدید مطابق سزا ټاکي، چې یاد ډول سزا ته په شریعت مطهره کې تعزیر ویل کېږي.
د جرم په اعتبار تعزیرات پر دوه ډوله دي:
که یو انسان داسې جنایت تر سره کړی وي چې په شریعت مطهره کې د هغه د پاره معلومه سزا نه وي، نو کتل کېږي به یا به یې پر عامه حقوقو تجاوز کړی وي مثلا: د ښار نظم به یې اخلال کړی وي، یا به یې د فسق په مجالسو کې شرکت کړی وي، یا به یې د سلطاني اوامرو او قوانینو رعایت نه وي کړی، په یادو جرمونو کې د وخت امام او قاضي کولای شي چې بې له ادعا یاد مجرم ته مناسب تعزیر ورکړي او که امام یا قاضي پوه شي چې بې له تعزیره هم د مذکور جنایت کوونکي منع راځي، بخښه هم ورته کولای شي.
او که یې د یو ځانګړي فرد پر حقوقو تجاوز کړی وي، مثلا چاته یې بده خبره کړې وي، وهلی یې وي ... په دا ډول جرمونو کې چاته چې ضرر رسېدلی دی محکمې ته عارض شي، تر اثبات وروسته قاضي مناسب تعزیر ورکوي، امام او قاضي نه شي کولای چې دویم ډول تعزیر مستقلا وبخښي، ځکه دلته د بنده حق ورسره تړلی دی.
والتعزير إذا كان من حق الله تعالى تجب إقامته ويجوز فيه العفو والشفاعة إن كان في ذالك مصلحة أو انزجر الجاني بدونه وإذا كان من حق الفرد فله تركه بالعفو وبغيره وهو يتوقف على الدعوى وإذا طالب صاحبه لا يكون لولي الأمر عفو ولا شفاعة ولا إسقاط.
سبل السلام ج.٤ ص.٥٤ هكذا في ج.٣ ص.١٨٣ ابن عابدين
لنډه دا چې د اسلام مبارک دین یو کامل دین دی، چې د ټولنې د ټولو وګړو اجتماعي او انفرادي ټول حقوق په کې محفوظ دي او پرته له څه تغیر او تبدیله په هره زمانه کې تر قیامته د تطبیق وړ دی.



# د حنفي فقهې راجحيت، غوره والی او جامعيت!

مولوي محمد بلال (حماد شېرزاد)[1]

د رسول الله (ﷺ) وروستی خطبه د حجة الوداع وه، صحابهٔ کرام را ټول او خپل محبوب ته يې صميمي غوږونه اېښي او زړونه يې ورته پرانيستي وو، تر څو د حق ويناوې واوري او بيا دا غوره دين د نړۍ تر هر کونجه او هرې بېديا ورسوي، هماغه وخت رسول الله (ﷺ) فرمايلي وو، عليکم بسنتي و سنة الخلفاء الراشدين المهديين... صحابهٔ کرام پر هماغه لار لاړل، په يو وخت يې د دې متين دين وړانګې د نړۍ تر کونجونو ورسولې، د هجرت د دويمې صدۍ په اواخرو کې د دين د اشاعت، ترويج او د فنونو چرچه وه، هلته چې باطلو فرقو نشو/ نماء کوله، نو پر وړاندې يې رېښتيني د حق داعيان او امامان ودرېدل، کلک ځوابونه يې ورکړل، د چا بطلان ته امام ابوحنيفه (رحمه الله) خدای سپر کړ، څوک بيا امام احمد بن حنبل (رحمه الله) پر غلطه ثابت کړل، د چا ترديد د مدينې امام مالک بن انس (رحمه الله) وکړ، د چا د غلطو عقايدو د بطلان لپاره امام شافعي (رحمه الله) او نور امامان ميدان ته را ووتل، مذاهب رامنځته شول او پر حقه باندې په کې څلورو مذاهبو شهرت وموندل.

همدا اوس په ټوله نړۍ کې د څلورو مذاهبو فقه په عملي توګه رايجه او مشهوره ده، چې حنفي فقه د دې په منځ کې عمومي منل شوې او له ځانګړي امتياز برخمنه ده، که ووايو چې اوليت او مرجحيت د همدې فقهې تقدير دی، نو غلطه به نه وي، ځکه حنفي فقهې چې کومه د کمال درجه ترلاسه کړې، د هغې د لاملونو او اسبابو معلومول دومره ستونزمن نه دي، ځکه د دې فقهې د پرمختګ او تکامل راز که په لنډه توګه ووايم، جامعيت، له اوسنيو حالاتو سره همغږي/ شامليدل، د اصولو او قواعدو مظبوطي او د احاديثو او آثارو شموليت دی.

په دغه ليکنه کې به يې زه په يو څو مهمو نقطو لنډ او جامع ليکل وکړم، تر څو په کې د حنفي فقهې ځانګړتيا، جامعيت، بهتري، د امامانو کردار، په ځانګړې ډول د دې فقهې لپاره د علماوو او لويو امامانو د شورى جوړېدل او د اوسنيو ځينو بدعتي ډلو/ ټپلو د حنفيت سره تړاو يا نه تړاو په کې روښانه او تر تاسو در ورسوم ان شاءالله.

**د حنفي فقهې ځينې مهمې ځانګړتياوې:**

د حنفي فقهې د ځانګړتيا په اړه علامه شبلي نعماني په "سيرت النعمان" کې ډېر په تفصيل سره ليکل کړي دي، چې د خلاصې په ډول به يې ځينې ذکر کړم.

۱- د حنفي فقهې مسائل او احکام پر اسرارو او حکمتونو باندې بناء دي، يعنې هره مسئله يې له حکمته خالي نه وي، د وخت او حالاتو موافق وي، د شريعت سره عين موافق وي او يو سر/ راز دا چې د مسئلې تحقيق کوي، نو دا به مومي چې دا د رسول الله (ﷺ) وروستی عمل دی.

۲- پر حنفي فقه عمل د نورو ټولو فقهاوو د فقهې په پرتله ډېر آسانه او سهل دی او لامل يې همدا ده چې دا فقه د يو شخص نظر نه؛ بلکې د يوې لويې کمېټې نظر دی.

۳- په حنفي فقه کې د معاملاتو اړوند چې کومې قاعدې دي، هغه ډېرې پراخې او متمدنې دي، چې د وخت په تېرېدو او د نويو معامعلاتو

---

۱- ليکوال

په راتګ سره ترېنه بشپړه او احسنه استفاده کېدلای شي او لا هم ترېنه کېږي.

۴- حنفي فقهې د ذميانو (يعنې هغه څوک چې مسلمان نه وي، خو د مسلمانانو په واکمنۍ کې اوسېږي او اطاعت کوي) حقوق په ډېرې پراخې سينې او آزادۍ سره ورکړي او دا هغه ځانګړنه ده، چې د هيڅ امام او مجتهد په فقه کې نه ليدل کېږي.

۵- حنفي فقه د شرعي نصوصو عين موافق ده، يعنې هغه مسائل او احکام چې د شرعي نصوصو څخه اخيستل شوي وي او په هغې کې د امامانو اختلاف وي، نو په هغې کې چې امام ابو حنيفه (رحمه الله) کوم اړخ رانيسي، هغه عموما قوي او مستدل وي او داسې مثالونه په نورو فقهو کې بيخې کم ليدل کېږي.

٦- د حنفي فقهې بله ځانګړتيا "شورا نظام" يعنې د دې فقهې په تدوين او د مسائلو په استخراج کې د جامعيت، شورائيت او همغږۍ څخه کار اخيستل شوی، ځکه چې په يوه مسئله کې د څلوېښتو لويو لويو علماوو نظرونه اخيستل کېدل او بيا به پرې فيصله کېدله او زه په کلي اعتبار سره ويلی شم، د نورو فقهاوو فقهې له دې ځانګړتيا څخه بيخې خالي دي او ان شاءالله مخکې ليکنه کې به يې په دغه جامعيت او شورائيت باندې هم رڼا واچوو.

د حنفي فقهې د راجحيت لپاره مو د يادې فقهې پر ځانګړنو مخکې برخه کې ليکل کړي وه، چې يوه مهمه ځانګړنه يکې د شورا نظام/ يعنې د يوې کمېټې تشکيل او بيا د هغوی له لوري د دې فقهې تدوين او پر مسائلو يې د همغږۍ په شکل تحقيق کول، د دې فقهې يوه داسې ځانګړنه ده چې نور مذاهب ترينه خالي او بې برخې دي.

د حنفي فقهې باني او د وخت لوی فقيه امام ابوحنيفه (رحمه الله) د دې فقهې د تدوين لپاره يو هر اړخيز او پراخ پلان جوړ کړ، ځکه چې دا ډېر دروند او ستونزمن کار و، خو د دې ستر او مهم ارمان د پوره کولو لپاره نوموړي د خپلو څلويښتو شاګردانو "چې دوی پخپله هر يو يې محدث، فقيه، د لغت او اسرارو ماهرين او د احاديثو څخه د مسائلو تخريج او د عربي ژبپوهنې برخو جبال وه"، را ټول او يو مجلس شورا په نوم يې کمېټه ترېنه جوړه کړه، چې دوی به په شريکه پر يوه مسئله بحث کولو، د ټولو نظر او دلايل به اورېدل کېدل، که چېرته به کله دوی په يوه خبره سره متفق شول، لکه زرګونه مثالونه يې فقه کې ګورو، نو امام ابو يوسف (رحمه الله) به د منقح ( د بحث او خبرو سموونکي) په شکل ياده مسئله په سمه توګه ثبت کړه او که د نظر اختلاف به و، بحث به يې په آزاده توګه دوام درلود، کله کله به د يوې مسئلې په اړه مباشتې مباشتې هم بحث دوام درلود، خو چې کله به استدلال او دليل قوي او د سبا په څېر روښانه شو، نو هغه مسئله به هم ليکل کېدله، لکه: موفق بن احمد مکي په مناقب ابي حنيفه کې ليکلي: ( فکان يلقی مسئلة مسئلةً و سمع ما عنده ويقول ما عنده، و يناظرهم شهرا او اکثر من ذالک حتی يستقر احد الاقوال ثم يثبتها ابو يوسف فی الاصول) او که له دې وروسته به هم د چا اختلاف و، نو هلته به په تحريري شکل ليکل کېده، چې د فلان اختلاف پکې د دغه دلائلو پر بنياد شتون لري او دا به يې ترتيب وه، چې تر څو به يې يوه مسئله حل کړې نه وه، نو نورو ته به نه تلل.

همدا راز علامه کردري د امام ابو حنيفه (رحمه الله) مناقبو کې ليکي چې "اذا وقعت مسئلة لهم يديرونها حتی يضيؤنها" ځکه امام صاحب شخصي د خپلې رايې تدوين نه خوښولو، بلکې تر هغې پورې چې د مجلس شورا نظر او بحث به پرې تېر شو او د هغې مسئلې پر هر اړخ به يې بحث نه و ترسره کړی، نو ليکل کېدله به نه، ځکه خو به امام ابو حنيفه (رحمه الله) ابو يوسف (رحمه الله) ته ويل چې هر هغه څه چې له ما يې اورې مه ليکه، ځکه چې نظر بدليږي.

**په فقهي مسائلو کې د شورا جوړولو شرعي حيثيت!**

په اسلام کې د شورا ارزښت او اهميت مسلّم او منل شوی او همدا راز په قرآنکريم کې الله تعالی د انصارو د شورايي نظام ستاينه او تعريف کړی او فرمايي: "و امرهم شوری بينهم" او په دې يې امر هم کړی دی، چې "وشاورهم فی الأمر"، همدا راز په احاديثو کې د شورا حکمت او فضيلت ذکر شوی دی،

همدا لامل دی چې صحابه کرامو په ټولیزه توګه د شورا نظام پیروي کوله او د محبوب پیغمبر (ﷺ) له رحلت وروسته د خلافت لومړۍ ستونزه د شورا په واسطه حل شوه او بیا پخپله ابوبکر صدیق (رضي الله عنه) د خپل خلافت پر مهال یوازې د شورا له لارې ټولې ستونزې حل کولې، لکه څنګه چې په السنن الکبری کې د میمون بن مهران په حواله یو مفصل روایت راغلی دی، چې ابوبکر به په یوه مسئله کې لومړی قرآن او احادیثو ته رجوع کوله او چې هلته به یې ونه موندل، نو صحابهٔ کرامو نه به یې پوښتنه کوله، چې کله به مسئله روښانه شوه نو ابوبکر (رضي الله عنه) به ویل چې خدایه ستا لوی فضل دی چې دا صحابه ستا د دین او ستا د محبوب د هر عمل ساتنه کوي.

همدا راز عمر فاروق (رضي الله عنه) هم د خپل خلافت پر مهال د فقهي مسائلو د حل لپاره یوه شورا جوړه کړه او چې کله به کومه ستونزه پیدا شوه نو د مدینې فقهاء اصحاب به یې را غونډول، بحث به یې پرې کولو او اجتماعي فیصله به یې کوله، علامه ابن القیم په اعلام الموقعین کې د ابوبکر او عمر فاروق (رضي الله عنه) شورا نظام په تفصیل سره بیان کړی دی.

په صحابه کرامو کې د زید بن ثابت، عبدالله بن مسعود، عبدالله بن عباس او تابعینو کې عمر بن عبدالعزیز، مروان بن الحکم او د مدینې فقهاء سبعه منهج هم شورایي نظام او مجلس وو. والله اعلم بالصواب

د حنفي فقهې لپاره د جوړې شوې شورا جامعیت باندې به یو لنډ نظر واچوو، چې تر څنګ به یې پخپله د حنفي فقهې جامعیت هم ثابت او روښانه شي، کله چې کوفه کې ستر تابعي، فقیه او د امام ابو حنیفه (رحمه الله) استاد حماد (رحمه الله) له دې فاني نړۍ وکوچېد، نو پر مسند یې امام اعظم (رحمه الله) کیناست، په دې سربېره چې امام صاحب پخپله د حدیثو، فقهې، لغت او اجتهاد امام و او پخپل دغه فن کې یې ساری نه لیدل کیده، خو بیا یې هم د حنفي فقهې د تدوین لپاره د خپلو برجسته شاګردانو نه د کار اخیستلو فیصله وکړه او د ابوبکر او عمر (رضي الله عنه) سنت یې ژوندي کړل، یوه شورا یې جوړه کړه، چې تر ټولو ستره ګټه یې دا ده، چې په اجتماعي ډول یو کار وشي، نو هغه ډېر دقیق، قوي او تر ډېره معصوم عن الخطاء وي او دا هم کومه پټه خبره نه ده چې د اجتماعیت او همغږۍ قوت د انفرادیت او ځانته کولو نه ډېر زیات دی.

له همدې امله کله چې د امام المحدثین وکیع بن الجراح (رحمه الله) په مخکې چا وویل چې په فلان مسئله کې ابو حنیفه خطاء شوی دی، "نو هغه وفرمایل ابوحنیفه هم خطاء کیدلای شي، حال دا چې له نوموړي سره د ابو یوسف او امام زفر په څېر د قیاس ماهرین، د یحیی بن ابو زائده، حفص بن غیاث، حبّان او مندل په څېر د حدیثو حافظین، قاسم بن معن او امام محمد په څېر د لغت امامان، د داؤد طائی او فضیل بن عیاض په څېر متقي او پرهیزګاره علماء شته، نو که ابو حنیفه (رحمه الله) غلطي کوي، دوی یې ورته نه په نښه کوي." د امام وکیع بن الجراح له دې وینا یو خوا د حنفي فقهې د تدوین منهج، د ټاکل شوې کمېټې د اشخاصو علمي منزلت او مقام او د بحث او تحقیق لاره معلومېږي او بل طرف ته پخپله د امام صاحب او د هغه د ملګرو جامعیت او لوړ مقام هم اندازه کېږي.

## د حنفي فقهې په تدوین کې آزاد بحث !

په مجلس شورا کې چې به کله یوه مسئله وړاندې کړای شوه، نو ټولو ناستو علماوو به پرې آزاد بحث، د یو بل پر دلیل نقد او استدلال کولو او امام صاحب پخپله دوی ته دا اجازه ورکړې وه، تر څو کوم عالم د ویرې احساس ونه کړي او مسائل په روښانه او صحي توګه تر خلکو ورسېږي او دا یقیناً چې غوره کار و، چې استاد خپلو شاګردانو ته د آزاد بحث او د نوموړي پر دلایلو د نقد اجازه ورکړې او نن یې موږ برکت ګورو، چې حنفي فقهې کې څومره وسعت او د نظر جامعیت شتون لري.

د حنفي فقهې یو مهمه ځانګړنه دا هم ده چې یادې فقهې کې پر تقدیري او هغه مسائلو هم پراخ بحث شتون لري کوم چې ممکن او راتلونکې کې پېښیدلای شي، تر څو په راتلونکې

وخت کې که کومه مسئله پېښه شي، نو حل به يې په فقه کې له وړاندې شته وي، د همدې لپاره امام صاحب او کمېټې يې داسې اصول او قوانين جوړ کړل، چې په هر وخت کې پرې پېښېدونکې مسائل په آسانۍ سره حل کېدلای شي او داسې مسائل بېخي زيات دي.

**په ټوليز شکل سره حل شوي مسايل!**

کله چې امام ابو حنيفه (رحمه الله) په کوفه کې د حماد (رحمه الله) په مسند کيناست، نو د هجرت ۱۲۰ کال و، تر ۱۵۰هـ پورې د حنفي فقهې لپاره جوړې شوې کمېټې د ځينو علماوو له قوله ۱۲ لکه مسائل وه، شمس الائمه علامه کردري (رحمه الله) ليکي: چې دا مسائل ٦ لکه وه، علامه موفق بن احمد مکې هم ٦ لکه مسائل ښيي او هغه وايي چې د حنفي فقهې له کتابونو د دې تائيد هم شوی، خو ځينې محققين وايي چې ياد ټول مسائل په کلي توگه ۸۳ زره وه، چې ۳۸زره په کې د عباداتو او پاتې ۴۵ زره د معاملاتو، سزاگانو او نورو کارونو اړوند وه، خو وروسته په کې بيا ډېره اضافه وشوه، چې تر ۵ لکو پورې ورسېدل.

(سيرت النعمان، دفاع عن ابي حنيفه او فتاوی رحمه اللهيميه)

د حنفي فقهې د شورا او کمېټې مهم اشخاص او غړي د امام ابوحنيفه (رحمه الله) سرپېره په لاندې او لنډ ډول دي، چې د وفات کال يې هم ورسره ليکل شوی.

(۱)امام زفر ۱۵۸ هـ (۲) امام مالک بن مغول ۱۵۸ هـ (۳) امام داؤد طائي ۱٦۰ هـ (۴) امام مندل بن علي ۱٦۸ هـ (۵) امام نضر بن عبد الکريم ۱٦۹ هـ (٦) امام عمرو بن ميمون ۱۷۱ هـ (۷) امام حبان بن علي ۱۷۳ هـ (۸) امام ابوعصمه ۱۷۳ هـ (۹) امام زهير بن معاويه ۱۷۳ هـ (۱۰) امام قاسم بن معن ۱۷۵ هـ (۱۱) امام حماد بن الامام الاعظم ۷٦هـ (۱۲) امام هياج بن بسطام ۱۷۷هـ (۱۳) امام شريک بن عبد الله ۱۷۸هـ (۱۴) عافيه بن يزيد ۱۸۰هـ (۱۵) امام عبدالله بن مبارک ۱۸۱هـ (۱٦) امام ابو يوسف ۱۸۲هـ (۱۷) امام محمد بن نوح ۱۸۲هـ (۱۸) امام هشيم بن بشير السلمي۱۸۳هـ (۱۹) ابو سعيد يحيى بن زکريا ۱۸۴هـ (۲۰) امام فضيل بن عياض ۱۸۷هـ (۲۱) امام اسد بن عمرو ۱۸۸هـ (۲۲) امام محمد بن الحسن ۱۸۹هـ (۲۳) امام يوسف بن خالد ۱۸۹هـ (۲۴) امام علی بن مسهر ۱۸۹هـ (۲۵) امام عبدالله بن ادريس ۱۹۲هـ (۲٦) امام فضل بن موسی ۱۹۲هـ (۲۷) امام علی بن طبيان ۱۹۲هـ ( ۲۸) امام حفص بن غياث ۱۹۴هـ (۲۹) امام وکيع بن الجراح ۱۹۷هـ (۳۰) امام هشام بن يوسف ۱۹۷هـ (۳۱) امام يحيىٰ بن سعيد القطان ۱۹۸هـ (۳۲) امام شعيب بن اسحاق ۱۹۸هـ (۳۳) امام حفص بن عبد الرحمه اللهمن ۱۹۹هـ (۳۴) ابو مطيع بلخي م ۱۹۹ (۳۵) امام خالد بن سليمان ۱۹۹هـ (۳٦) امام عبدالحميد ۲۰۳هـ (۳۷) امام حسن بن زياد۲۰۴هـ (۳۸) امام ابو عاصم النبيل ۲۱۲هـ (۳۹) امام مکي بن ابراهيم۲۱۵هـ (۴۰) امام حماد بن دليل ۲۱۵هـ. الجواهر المضيئه)

وړاندې مو د حنفي فقهې پر بېلابېلو اړخونو او د شورا پر ارکانو لنډ بحث ترسره کړ، مخکې د يادې فقهې اوسنی حالت او په اوسنۍ ټولنه کې د حنفيت د اصلي خادمانو، د تصوف د کومې لارې سره تړاو او داسې ځينې نورې برخې څېړو؛ تر څو روښانه شي هغه خلک چې د حنفيت په نوم باطلې عقيدې او رسومات د ټولنې منځته راوړي، يوازې د حنفيت کاذب مدعيان دي او په واقعي معنا دوی کله هم د دې مذهب پيروان نشي کېدلای او دا يوازې د دې لپاره ترسره کوم چې ټولنه کې د دې خلکو نشو نما کمه او خلک ځان ترينه وساتي.

د حنفي فقهې مدار، منهج او اصول بېخي واضح دي، په هره زمانه او د فتنې په هر دور کې يې متبعين د باطل پر وړاندې درېدلي او مقابله يې کړې، حنفي فقه وه چې په هر وخت کې د خلافتونو، سلطنتونو، دولتونو، وړو او غټو حکومتونو او په اوس وخت کې د زياتره اسلامي هېوادونو رسمي او د قضاء لپاره ټاکل شوې واحده فقه وه او لا هم ده، لامل يې دا ښودل کېږي چې ياده فقه بېخي پراخه او وسيعه وه، هره مسئله او د هر حالت لپاره حل په کې په ډېرې اسانۍ موندل کېدلو او دا چې د خراسان، بغداد، ايران، ترکستان، د هند نيمه لويه وچه، د ماوراء النهر ټولې سيمې او د ترکيې ۹۵٪ نه زيات خلک د يادې فقهې او په زياترو افريقايي هېوادونو کې يې هم په پراخه کچه پلويان درلودل، ځکه خو يې شهرت

مونډلی و او هرچاته د منلو وړ وه.
حنفيت د دين ټولو برخو ته په پراخه کچه خدمت ترسره کړی، هغه ټول مسائل يې څيړلي او امت ته يې وړاندې کړي چې د کومو زياته اړتيا او په ژوند کې ورسره انسانان مخ کېږي، بيا له امام ابو حنيفه (رحمه الله) نه وروسته د هر دور او هرې طبقې علماوو د يادې فقهې داسې تنقيح کړی چې نن هم امت پرې وياړي او پخپلو دعاوو کې يې ياد ساتي، خو تر څنګ يې ځينو فتنو هم سرونه راپورته کړي او د حنفيت په نوم يې په ټولنه کې ځان مشهور کړی، په همدې نوم يې پيروان پيدا کړي او لا هم د خلکو له عقايدو او عملونو سره لوبې کوي او ځان د حنفي مذهب کلک ملاتړي بولي؛ خو واقعيت کې يې له حنفيت سره هېڅ تړاو نشته، ځکه حنفيت له هغه ټولو عملونو بيزاره دی، چې دين کې اصل ونه لري، حنفيت تل د رسول الله مبارک (ﷺ) وروستي او ثابت عمل ته ترجيح ورکړې، هغه عملونه يې راخيستي چې صحابهٔ کرامو (رضوان الله) پرې دليل قايم کړی، يا يې د رسول الله (ﷺ) په وړاندې کړی او هغه مبارک پرې چوپ پاتی شوی، حنفيت تل په ميانه روی او متوسطه لاره تللی، که يو طرف يې ځان له نورو باطلو عقيدو ساتلی او پر وړاندې يې کلک دريځ نيولی، نو بل طرف ته يې بيا خپله حنفيت هم له خرافاتو، رواجونو، رسمونو او د تصوف له هغه طريقو لرې ساتلی چې په اوسني عصر کې د ځينو تش په نوم حنفي فرقو عمل ګرځېدلی.

حنفي فقه د مسلمانانو ترمنځ تر ټولو لوی او غوره مذهب دی، له هغه دويمې او درېيمې صدۍ که د تاريخ کتابونه ولولو، پخپله د هغه وخت د لويو علماوو ويناوې وګورو، نو درته جوته به شي چې حنفي فقه د هر وخت تر ټولو ډېر خپور شوی او د يو وخت سروې مې کتله چې د حنفي مذهب د پلويانو فيصدي سلنه يې په سلو کې ۶۲ او يوې بلې سروې بيا دا فيصدي ۶۸ ليکلې وه، خو په هر حال حنفي فقه يو له ډېرو پايداره فکرونو څخه شمېرل کېږي او د ټول ملت لخوا منل شوې فقه ده، حنفي فقه يو له هغو فقهو څخه شمېرل کېږي چې په اسلامي فقه کې يې د مسائلو تدوين د فصلونو په ترتيب سره ترسره کړ، ځکه چې امام ابو حنيفه (رحمه الله) لومړنی کس ګڼل کېږي چې شرعي علوم او مسائل يې مدون او په فصلونو کې يې ترتيب کړل، ځکه چې صحابه کرامو او تابعينو د شريعت په علم کې طبقه بندي يا منظم کتابونه نه دي جوړ کړي، بلکې د ذهنونو په قوت يې تکيه کوله، خو کله چې امام ابو حنيفه (رحمه الله) د مشرانو مړينې وليدلې، نو وډار شو چې د علم لويه برخه به ضايع شي، نو فقه يې تدوين او د بابونو فصلونو او تراجمو په شکل يې امت ته وړاندې کړه.

پخپله د هغه وخت ټول فقهاء د امام ابو حنيفه (رحمه الله) په اجتهاد او غوره والي قائل وو، اجله امامانو ته مسلّم و، له نومورې څخه پخپله او له شاګردانو يې استفاده کړې، له همدې امله د امام شافعي (رحمه الله) هغه قول ښخې مشهور دی، چې وايي "الناس في الفقه عيال على أبي حنيفة." او پخپله عبدالله بن مبارک، مالک بن انس، يحيی بن سعيد القطان، مشهور محدث نضر بن شميل، وکيع بن الجراح، امام ذهبي، ابن عبدالبر (رحمهم الله) او داسې ډېرو د وخت لويو فقهاوو يې په اړه بېخې جالب ليکل او ستاينې کړي.

په نورو برخو کې مو د حنفيت پر ښلابېلو اړخونو رڼا واچوله، په دې برخه کې په اوسني وخت کې د يادې فقهې او مذهب د اصلي پيروانو او لارويانو په اړه ليکل کوو او د هغه خلکو ته شودنه هم کوو چې د ياد مذهب په نوم په دين کې نوې طريقې او لارې را وباسي او ټول نسبت يې امام ابو حنيفه (رحمه الله) او د دې فقهې سرکرده خلکو ته کوي؛ حال دا چې هغوی له داسې کړنو او عملونو بيزاره دي او تل يې ترديد کړی.

په اوسني وخت کې کله چې انګريز پر ډېری هېوادونو خپله ولکه ټينګه کړې وه، پر وړاندې يې هندوستان کې زرګونه علماء ودرېدل، د دارالعلوم ديوبند بنياد کېښودل شو، له هغه ځايه د علم جبال او برجسته رجال تيار شول، چې هر يو يې نن په ټوله نړۍ کې مشهور دی، هغه که د ديوبند باني قاسم نانوتوي رحمه الله و، که لوی فقيه شيخ الهند محمود الحسن رحمه الله و، هغه که شاه ولي

الله دهلوي او که د خپل وخت فقيه او ستره هستي رشيد احمد گنگوهي و، که مفسر او محدث شبير احمد عثماني و، هغه د تصوف او سلوک د لارې امام علامه انور شاه کشميري او که فقيه او محدث اشرف علي تهانوي و، هغه که د خپل وخت لوی محدث علامه زکريا او که د سياست امام حسين احمد مدني (رحمه الله) و هر يو يې د تصوف، فقهې، احاديثو او فنونو ماهرين تېر شوي او د دې دين يې داسې خدمت ترسره کړی، چې نن حنفي مذهب همدوی په حقيقي بڼه ژوندی ساتلی او هغه باطل خلک چې دې مذهب پورې ځان تړي مردود کړي او باطل يې ثابت کړي.

دوی د اسلام او بيا په اسلام کې د حنفي مذهب داسې خدمت ترسره کړی، چې نن پرته له کومې مبالغې د نړۍ په هر کونج کې د دوی شاگردان د دين پر خپرولو او دفاع کولو يې بوخت دي، دوی د باطلو مخه ونيوله او په ياد مذهب کې يې د هغه فرقو رد وکړ، چې هيڅ اصل نه لري، دوی واضح تاريخ وليکلو، چې د بدعتونو، خرافاتو او له دين څخه د لرې رواجونو بنياد د انگريز او غرب له لوري د جوړو شوو ډلو کار او د دوی کړنو ته نه په نورو مذهبونو او نه هم په حنفي مذهب کې ځای شته او نه اصل تصوف دغه کړنو ته اجازه ورکوي.

دا ليکل يوازې د دې لپاره کوم چې له دغو خلکو زموږ عام مسلمانان ځان وساتي او پر خپل هغه امام پسې چې تل يې د حق لټون او موږ ته يې حق روښانه کړی لاړ او د هغه پيروي وکړي، نه د هغه خلکو چې تل د خپلو خواهشاتو ښکار شوي، دين يې کله د يو چا پر خوښه او کله يې د بل چا پر خوښه استعمال کړی.

زموږ په افغانستان، پاکستان، هندوستان او نورو نږدې هېوادونو کې اغلب مذهب حنفي دی، خو دلته د حنفيت خدمت او حقيقي بڼه يې د دارالعلوم ديوبند علماوو ساتلې، وگورئ که څوک د دغه علماوو لاره نيسي؛ نو پسې لاړ شئ، د دوی خبره ومنئ او که د يادو علماوو پر لاره نه تلل، لکه بريلويت، سيفيت، پنجپيريت او داسې نور چې نن خپل ځانونه حنفي مذهب ته منسوبوي؛ خو په اصليت کې د دوی لاره او طريقې زياتره خطاء او په عقايدو کې يې له حده زيات فرق دی، د تصوف کومه لاره چې دوی غوره کړې، هيڅ اصل نه لري، بلکې د تصوف لپاره چې پخپله د ديوبند علماوو کوم خدمت کړی، هغه له هيچا هم پټ نه دی، هلته شاه عبدالعزيز، علامه ندوي، انور شاه کشميري، اشرف علي تهانوي او نورو اجلّه د وخت د تصوف لويو امامانو پرې ليکل کړي او د اوسنيو دغو ډلو دا کړنې هيڅ مناسبات ورسره نه خوري او نه هم د سلفو له عملونو سره سمون خوري.

د حنفي مذهب اصل معلوم او روښانه دی، علماء يې معلوم او تر هر چا ډېر مشهور او پېژندل شوي، خو نننۍ فرقې د خپل ځان د شهرت لپاره په حنفي فقه کې داسې شيان او عملونه راوباسي چې د ۱۸۷۰ ميلادي نه مخکې به يې د هيڅ يو عالم او تصوف د خادمينو په کتابونو او عملونو کې ونه مونده، بلکې ټول بدعات او رسومات د پرديو له لورې تپل شوي او نن يې ناپوهه ولسونه هم ورسره مخته وړي، پخپله قاضي ثناءالله پاني پتي په تفسير مظهري کې، د نوموړي پير مظهر جان جانان چې واقعي لويه هستي وه پخپلو ليکنو او درسونو کې، شاه عبدالعزيز دهلوي، مولانا شاه اسحاق او گڼو نورو علماوو د دې ټولو هغه رسوماتو چې نن يې دغه ډلې ترسره کوي، ترديد کړې او د دوی کړنې يې د دين، قرآن او سنت څخه بهخي لرې ښودلي دي.

د تصوف په اړه د علامه اشرف علي تهانوي کتاب تبويب تربيت السالک، د علامه رومي کتابونه، د علامه ابن قيم رسالې، د علامه غزالي کتاب احياء علوم الدين، الرسالة القشيرية، الانوار القدسية، المنقذ من الضلال، الرسالة اللدنية، الحکم العطائية، المسافرون الی الله، منازل السائرين، شريعت و طريقت او التکشف عن مهمات التصوف غوره کتابونه دي چې تصوف يې په واقعي بڼه خلکو ته ور پېژندلی.



# د اسلامي نظام قضائیه قوه د بشپړ عدالت شهکاره ده

مفتي محمد عرفان (الهام)[1]

### درېیمه برخه

### د قضاتو تعقیب او تفتیش

په دې خبره کې هېڅ شک او تردد نشته چې اسلامي شریعت د قضاتو په اړه د هغوی د قدرمن ستر مسؤولیت او عظیمې وجیبې له امله هم د قضاتو او هم د اسلامي نظام د قضائیه قوې په ستر احترام قایل دی او تل د دې منصب د خاوندانو د قدر او احترام سپارښتنه کوي؛ آن تر دې چې د لمانځه د امامت او نورو شرعي احکامو لکه امامت د جماعت لمانځه او اعیادو کې هم قاضي د محکمې تر نورو علماوو او اشخاصو د امامت د دندې د سرته رسولو لپاره حق د اولیت لري؛ چې دا ټول د قاضي په ځانګړي شخصیت او د نوموړي په معنوي قدر او منزلت دلالت کوي؛ خو بیا هم قضات د نورو انسانانو په څېر د خطاء، تخطی، غفلت او عدم تفحص په څېر له اشتباهاتو څخه محفوظ نه دي، احیاناً عمدي غیر حق د قضیې یوه جهت ته د غیر عادلانه تمایلاتو، محبت او یا د یوه شخص سره د عقدې له امله د عدالت له کرښو واوړي؛ چې دا ډول کړنې یا د پوره عدالت د تطبیق، تنفیذ مخه نیسي او یا بلکل حکم د عدالت صفت چې د قضاء اهم مطلوب دی له منځه وړي. په داسې حال کې چې محترم قضات د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله) د امرونو نافذوونکي اشخاص دي، بناءً فقهاء کرامو د مسلمانانو په مشرتابه دا لازمه بللې ده چې د ټولو قضاتو چارې وڅارې، همدارنګه په مشرتابه او یا د هغه په نائب (داستخلاف په صورت کې) قاضي القضات لازمه ده، چې خپل ما تحت قضات وخت پر وخت تعقیب کړي او د هغوی فیصلې وګوري.

### د قضاتو عزل

د اسلام د مبارک دین د لارښوونو موافق حکومتي منصبونه او مسؤولیتونه د چا شخصي ملکیت او میراثي برخه نه ده؛ بلکې د یوه امانت په څېر یې الله تبارک و تعالی هغه کسانو ته د سپارلو امر کړی دی، چې د مسؤولیت د ترسره کولو ښه صلاحیت ولري، د الله تعالی د منزل شرعي قانون واکمنان د بشپړ قوت څواک او فطري صلاحیت سره د دې مقدس نظام چارې منظمې او د جمال او کمال په جامه سمبال مخته یوسي.

الله تعال فرمایي: ان الله یأمرکم ان تؤدوا الامانات الی اهلها. ژباړه: بې شکه الله تعالی اهلیت لرونکو کسانو ته د واک سپارلو امر درته کوي.

دا د اسلام د مبارک دین قانوني امتیاز دی چې هر کس ناکس ته او بلا قید او شرط د اهلیت د منصب سپارل جایز نه ګڼي، لکه څرنګه چې د جمهوریت د خود ساخته قانون د اصل په بناء هر څوک یوازې د رایو د اکثریت د ګټلو په لحاظ هر نوعه واک ترلاسه کولای شي. بناءً هغه کسان چې د قضاء د ستر منصب د خدمت لپاره د قضاء کوونکي شخص د صفاتو درلودونکي دي چې نظام د یوې غښتلې اداري کنټرول په واک کې لري او د قضاء د مهمې اداري فعالیت ور

---

[1] - د پکتیکا د وزیخوا ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې رئیس

له غاړې ده؛ عزل يې هم شرعاً مطلق جائز نه دی، دا چې د اسلامي شريعت ډېر فقهي احکام بالخصوص د مسلمانانو د مشرتابه تصرفات د عامه مصلحتونو په نظر کې نيولو باندې او يا د عامه ضرر څخه د مخنيوي په اهدافو مبني دي، بناءً د همدغې فقهي اصل په نظر کې نيولو سره د قاضي د عزل لپاره فقهاء کرامو لاندې څو صورتونه بيان کړي، چې څو صورتونه مختصراً د دې مقالې برخه ګرځوو.

**لومړی صورت: د قاضي عزل واجب دی**

الف: که چېرته قاضي اقرار وکړي په خپل غير اصولي ناروا حکم کولو باندې داسې چې ووايي چې ما په فلان موضوع کې د فلان په حق کې قصداً غير حق حکم وکړ.
ب: چې په قضاتو باندې د څار او تفتيش کوونکو اشخاصو د دقيقې پلټنې او معلوماتو له طريقه اميرالمؤمنين (حفظه الله) او يا د هغه نائب ته معلومه شي، چې قاضي په خپلو فيصلو کې عدالت نه کوي او په غير مشروع طريقه احکام صادروي او يا دا چې د قضاء کولو د اهليت لازمه صفات نه لري، د قضاتو ښه او بد اعمال په اولوالامر يې اغيزې، لکه چې وړاندې مو ووېل د قضاتو نصب او عزل يو لوی مسؤوليت او دقت ته اړتيا لري، له دې امله که د مسلمان مشرتابه او اولو الامر له خوا له يوه شخص سره د خپل شخصي محبت له امله هغه شخص بې له دې چې د اهليت صفات يې په نظر کې ونيول شي؛ قاضي وټاکل شي، نو که نومړی شخص د ګناه ارتکاب کوي، يعنې غير مشروع او غير قانوني احکام صادروي، نو د ګناه نيم بار يې د ټاکوونکي شخص په غاړه ده. له دې امله چې نومړې مشرتابه د شخص په ټاکلو کې اهليت ته ونه کتل، بلکې د نومړي محبت ورباندې غالب شو او په خلکو يې غير مستعد نااهل واکمن کړ. او که د مسلمانانو مشرتابه او يا د هغه نائب او پوره هڅه، هاند او تدبير وکړي او د قضاء د اهليت لرونکي شخص په پيداکولو او ټاکلو کې ټول شرعي معيارونه مراعت کړي، داسې اهليت لرونکی قاضي انتخاب کړي، چې له ټاکلو يې د مسلمانانو ګټې او مصلحتونه ساتل غرض وي، نو د نومړي قاضي او حکم د قضاء اړوند ټولو طاعتونه او نيکو اعمالو د ثواب برخه کې يې د مسلمانانو مشرتابه هم شريک دی او د ټاکل شوي قاضي د تېروتنو د ګناه شريک يې نه ده.

**دوهم صورت:**

دا چې د قاضي عزل جائز دی خو د مصلحت په بناء د احنافو، مالکي، شافعي او حنبلي علماء کرامو (رحمهم الله) په آند د راجح قول په بناء د مسلمانانو خليفه/ اميرالمؤمنين ته جائز دی، چې قاضي بلا ارتکاب د کوم معصيت او تخطي عزل کړي، البته د مسلمانانو د مشرتابه دا پرېکړه بايد په عامه مصلحت بنا وي، او ديانة د مسلمانانو خليفه مکلفيت لري، چې د قاضي د عزل دا ډول پرېکړه په مصلحت پوري تړلې وي. له دې امله چې قاضي د ټولنې له اشرافو څخه دی او په عزل يې ذلت حتمي دی، نو که بلا وجه عزل کېږي، مستحب دی چې د حيثيت د تخريب څخه د مخنيوي په منظور يې خلګ اګاه کړل شي، تر څو چې خلک د معزول قاضي په برائت خبر وي.

**د قاضي د اجراآتو د اعتبار ختميدل**

کله چې د يوې محکمې قاضي د ذي صلاحيت امير له لوري عزل شي، يا په خپله ځان معزول کړي ( استعفاء وکړي او هغه منظوره شي، نو تر عزل وړاندې صادر کړي احکام يې ټول په خپل ځای پاتې دي، په دې شرط چې دفتر کې ثبت او مهر شوي وي او يا شاهدان ووايي چې فلان موضوع کې قاضي صاحب داسې حکم کړی دی او چې کله ورته د عزل مکتوب ورسيد، نو ټول اجراآت يې د اعتبار وړ نه دي او نافذ کيدلای نه شي.

# د رشوت (بډې) اخيستل د اسلام له نظره

حافظ مولوي دلاور (طارق)[1]

رشوت (بډي) اخيستل د ټولنيز عدالت د پلي کېدو پر وړاندې ستر خنډ بلل کېږي؛ هغه قوانين چې پر مټ يې د مظلوم لاسنيوى او د ظالم مخنيوى کېږي، د رشوت اخيستلو په صورت کې معکوس منتج کېږي.

رشوت اخيستل د زورواکانو او ظالمانو د ظلم او تېري د دوام او د مظلومانو د حقوقو د ضياع سبب گرځي، د دې ترڅنګ د جرايمو ګراف لوړوي، مجرم په تکراري ډول په جرم کولو زړور کوي او نورو خلکو ته د جرايمو په ارتکاب جرأت ورکوي.

رشوت اخيستل پر ځاى د دې چې ظالم د ظلم نه را وګرزوي، د هغه سره په ظلم کولو کې همکاري او هغه ته د ډاډ ورکولو وسيله ګرزي، مظلومان نور هم ځپل کېږي او د ظالمانو نامشروع ګټې خوندي کېږي.

رشوت اخيستل په حق باندې د باطل د غالبه کېدو وسيله ده او شريعت ټول هغه وسائل نامشروع ګرزولي چې په وجه يې حق مغلوبه کېږي. د رشوت په ذريعه قانون پلورل کېږي، قانون د زورواکو او مافيايي کړيو لاس ته لوېږي او چوکۍ او منصبونه د نا اهلو خلکو منګولو ته غورزېږي.

لنډه دا چې رشوت يا بډې اخيستل هغه ناروا پديده ده چې ټولنه د ژورو ستونزو او ناخوالو طرف ته په تدريجي ډول سوق کوي، د ټولنې پرمختګ له منځه وړي او په حقوقي، سياسي او ټولنيزو چارو کې ظلم، فساد، تبعيض او بې عدالتي نفوذ کوي، د نظام او رعيت ترمنځ واټن ايجادوي او د اعتماد فضاء له منځه وړي چې بالاخره د نظام په کمزوري کېدلو او شړيدلو منتج کېږي.

په دې ليکنه کې د رشوت پېژندنه، حکم او ډولونه يې تر څېړنې لاندې نيسو.

د رشوت پېژندنه: څرنګه چې رشوت يوه عربي پراخه کلمه ده چې په معنا کې يې د علماؤو خورا زيات اقوال موجود دي، نو اړينه ده چې د دې کلمې لغوي او اصطلاحي معناوې وپېژنو. الف: د رشوت لغوي پېژندنه: رشوت د (رشو) څخه اخيستل شوى ده، د (را) په زبر، زېر او پېش سره تلفظ شوى د جُعل (مزد) په معنا سره راځي، يعنې چې د

---

۱- د ننګرهار د حصارک ولسوالۍ د ابتدائيه محکمې رئيس

کار جوړونې لپاره يو څه ورکړل شي. يا د رشوت کلمه د (رشاالفرخ) نه اخيستل شوې ده (کله چې د مرغۍ بچي خپلې مور ته د خوراک لپاره سر اوږد او خوله وازه کړي) د دې معنا سره يې تړون داسې دي، لکه څنګه چې د مرغۍ بچي کمزوري وي، کار او کسب نه شي کولای او د خوراک لپاره يې خپلې مور ته خوله وازه کړې وي، تر څو مور له خپل ججوري څخه په خوله کې يو څه ورکړي، همدغسې رشوت اخېستونکی هم حقير، ذليل، کمزوری او بې همته وي چې تل يې د بل ججوري ته خوله وازه کړې وي او د هغه د خولې قې له ستوني تېروي.

يا رشوت د (رشاء) څخه اخيستل شوی دی او رشاء هغه پړي او رسۍ ته ويل کېږي چې بوکې پورې تړل کېږي او د کوهي نه پرې اوبه راويستل کېږي. د دې معنا سره يې تړون داسې ده، لکه څنګه چې د بوکې پړي له پورته ځای څخه ښکته ځي، همدغسې رشوت اخېستونکی هم د عزت لوړ مقام څخه د ذلت ښکته مقام ته ځي، يا لکه څنګه چې د رسۍ په توسط د کوهي له بېخه په تياره کې په خفيه ډول اوبه را پورته کېږي، همدغسې رشوت ورکوونکی هم د پردي مال د ترلاسه کولو لپاره د رشوت ورکولو څخه استفاده کوي.

ځينی علماء وايي، چې سُحت او برطيل هم د رشوت مرادف الفاظ دي، ځکه سُحت په اصل کې هغه شديدې او سختې لوږې ته ويل کېږي چې مړښت نلري او هغه څوک چې په رشوت اخيستلو معتاد وي، هم مړښت نلري، هر څه خيټې ته ور اچوي خو بيا هم غږ کوي چې (هل من مزيد؟)

همدارنګه برطيل په اصل کې اوږدې تيږې ته ويل کېږي، رشوت خور هم د حق ويلو او ليکلو نه داسې ساکت او چوپ وي، لکه اوږده تېږه يې چې خوله کې ور ټک وهل شوې وي.

**د رشوت اصطلاحي معنی:** لکه څنګه چې د رشوت په لغوي معنا کې د علماؤو مختلف اقوال دي، همدغسې په اصطلاحي معنا کې يې هم مختلف اقوال دي، چې ټول قريب المعنی دي چې ځينې يې په لاندې ډول دي: (والرشوة هي المال الذي يدفع بشرط الاعانة) يعنی رشوت هغه مال دی چې د مرستې په شرط ورکول کېږي(۱). (والرشوة مال يعطيه بشرط ان يعينه) يعنې رشوت هغه مال دی چې د مرستې او کومک په شرط يې ورکوي. (۲) ځينې علماء وايي، رشوت هغه مال ته ويل کېږي چې د ناروا کار د ترسره کولو لپاره حاکم ته ورکول کېږي. ځينې وايي، رشوت هغه مال ته ويل کېږي چې د حق د باطلولو او يا د باطل د حق کولو لپاره ورکول کېږي. همداسې نور تعريفونه هم شوي دي خو تر ټولو ښه تعريف دا ده چې ابن عابدين کړی دی هغه داسې وايي: (الرشوة ما يعطيه الشخص الحاکم وغيره ليحکم له او يحمله علي مايريد) يعنی رشوت دېته وايي چې يو کس حاکم ته او يا د حاکم نه پرته بل چا ته مال د دې لپاره ورکړي چې هغه د ده په ګټه فيصله وکړي، يا دا چې څه شی غواړي هغه پرې اجراء کړي. د دې تعريف نه يو څو ټکي څرګنديږي اول: په تعريف کې د (ما) کلمې نه څرګندېږي چې رشوت د مالونو څخه پرته غير مالي برخو ته هم شامليږي، يعني د خلکو ويناوې او انساني کړنې هم په بر کې نيسي مثلاً، که يو څوک د يو حاکم زيات احترام وکړي او يا په معامله کې د هغه څخه کمې پيسې واخلي، ترڅو د هغه په نفعه حکم وکړي نو دا هم په رشوت کې راځي، البته په تعريف کې د (يعطيه) کلمه د (ما) عموميت محدودوي او يوازې هغه څيزونو ته شامليږي چې د سپارلو وړ وي.

دويم: دا تعريف د دې ترڅنګ چې حاکم او قاضي ته شامل دی، نورو مواردو ته هم شامليږي مثلاً، يو کس وغواړي چې په يوه اداره کې يې کار ژر ترسره شي او د هغې لپاره چا ته يو څه ورکړي نو هم رشوت بلل کېږي.

درېيم: د تعريف نه معلومېږي چې قاضي ته په هر حال کې مال ورکول رشوت بلل کېږي، يعنې که د هغه نه د مال په مقابل کې د ناروا فيصلې غوښتنه شوې وي او که د روا ، په دواړو حالتونو کې د قاضي په حق کې رشوت بلل کېږي.

**د رشوت حکم:** دا چې شريعت د خلکو د مالونو په ساتنه سپارښتنه کړې او رشوت د خلکو د مالونو د ضياع يوه وسيله ده نو له همدې امله رشوت ورکول، اخيستل او ترمنځ يې واسطه جوړېدل شريعت حرام ګرزولي دي او د کبيره ګناهونو څخه ګڼل کېږي؛ برابره خبره ده که رشوت ورکول قاضي ته وي، که حاکم ته وي او که بل داسې شخص ته وي چې د مسلمانانو کارونه پرته له عوضه د هغه پر غاړه وي. دغه حکم د شرعي منابعو (قران، حديث او اجتهادي مصادرو) څخه معلومېږي چې

تفصیل یې په لاندې ډول دی:

**رشوت د قران له نظره:** په قرانکریم کې زیات داسې آیاتونه موجود دي چې د رشوت د حرمت لپاره د هغه څخه استدلال کېږي چې د هغې له جملې څخه یې ځینې په لاندې ډول ذکر کوو: الله جل جلاله په سورت بقره کې فرمایي: وَلَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ وَتُدْلُوا بِهَا إِلَى الْحُكَّامِ لِتَأْكُلُوا فَرِيقًا مِنْ أَمْوَالِ النَّاسِ بِالْإِثْمِ وَأَنْتُمْ تَعْلَمُونَ.(۳)

ژباړه: او تاسې په خپلو منځونو کې یو د بل مالونه په ناحقه توګه مه خورئ او حاکمانو ته یې هم د بډو په توګه د دې په خاطر مه ورکوئ، ترڅو ستاسې یوه ډلګۍ د خلکو مالونه په ظلم او تېري سره وخوري په داسې حال کې چې تاسې ښه پوهېږئ.

په دې آیت شریف کې په دوه ځایونو کې د رشوت په حرمت باندې استدلال کولای شو لومړی، دې ایت شریف ټول انسانان د حرامې او باطلې لارې د مالونو د خوړلو څخه منع کړي دي چې په دې کې رشوت هم شاملېږي، ځکه چې رشوت هم د حرامو خوړلو یوه باطله لاره ده. دوهم: د (تُدْلُوا بِهَا) کلمه د مفسرینو په وینا په رشوت باندې صراحت لري او انسان یې د رشوت په واسطه د بل د مال د خوړلو څخه حتی د رشوت ورکولو څخه منع کړی دی او د نهې غوښتنه هم حرمت دی. همدارنګه په عزیز التفاسیر کې د (تُدْلُوا) کلمې په اړه داسې لیکل شوي دي چې د (تُدْلُوا) کلمه د (ادلاء ) څخه اخیستل شوي دی چې اصلي حرفونه یې (د) (ل) او (و) دي، نو د لغت په اعتبار سره یې معنی داسې کېږي چې د مالونو څخه بوکه مه جوړوئ چې قاضي ته یې ور غورزوئ او د هغه څخه ورباندې ناحقه فیصلې را واخلئ، لکه چې یو څوک د یوې ژورې څاه د اوبو څخه استفاده نشي کولای تر څو چې بوکه ورځوړنده نکړي او اوبه ور باندې را پورته نه کړي، نو تاسې هم چې کله پردی مال قانوناً نشی خوړلای او یا مو وربانډې زور نه رسېږي چې په غصب باندې یې واخلئ؛ نو بیا ورته حیله مه جوړوئ چې د قاضي په فیصله یې خپل ځان ته را کش کړئ.

(۲) دوهم ایت چې د رشوت حرمت ور څخه ثابتیږي د سورة مائدې دا ایت دی: سَمَّاعُونَ لِلْكَذِبِ أَكَّالُونَ لِلسُّحْتِ.(۴)

ژباړه: دروغو ته زیات غوږ نیسي او زیات حرام خوري.

په دې آیت شریف کې د یهودو د علماؤو مذمت بیان شوی دی، چې د هغوی د ځانګړتیاوو څخه یوه هم د رشوت خوړل وه لکه حسن وایي: د بني اسرائیلو د حاکمانو دا عادت وو چې یو کس به ورته راغلو او په لستوڼي کې به یې پټ مال نیولی وو او ورته به یې ښکاره کړ نو حاکم به یوازې د همده خبره اورېدله او د خصم خبرې ته به یې التفات نه کاوه، په دې طریقه به یې رشوت اخسته او درواغو ته به یې غوږ کېښودلو نو ځکه یې الله تعالی مذمت بیان کړ او مذمت مستلزم دی حرمت لره. (۵)

په پورته ذکر شوي ایت کې د (سحت) نه مراد رشوت دی، لکه ابن جریر د ابن عمر (رضي الله عنه) نه روایت نقل کړی چې رسول الله صلي الله علیه وسلم وفرمایل: هغه غوښه د اور سره لائق ده چې د سحت په وجه پیدا شوي وي، ورته وویل شول سحت څه شی دئ؟ رسول الله (صلي الله علیه وسلم) وفرمایل: په فیصله کې رشوت اخیستل سحت دی. همدارنګه عمر بن خطاب (رضي الله عنه) وایي: د حاکم لخوا رشوت اخیستل په سحت کې شمېرل کېږي. همدارنګه ابن مسعود (رضي الله عنه) وایي، (السحت الرشوة في الدین (٦) په شریعت کې رشوت اخیستل سحت دی. حضرت علي رضي الله عنه وایي (السحت الرشوة) سحت عین رشوت دی. (۷) ابن قدامه په المغني کې لیکلي چې حسن او سعید ابن جبیر د (اکلون للسحت) په تفسیر کې وایي: مراد د سحت نه رشوت دی، بیا زیاتوي کله چې یو قاضي رشوت ومني نو کفر ته رسېږي، ځکه دا په رشوت منلو سره په (بغیر ما انزل الله) فیصله کوي او څوک چې په (بغیر ما انزل الله) فیصله کوي، نو د (ومن لم یحکم بما انزل الله فاؤلئک هم الکفرون) صریح نص په اساس کافر کېږي. (۸) البته د جمهورو علماؤو په نزد رشوت ګناه کبیره او حرام دی.

**رشوت د احادیثو له نظره:** امام ترمذي، امام احمد او ابن حبان (رحمهم الله) د حضرت ابوهریره (رضي الله عنه) په روایت او ابوداؤد د ابن عمر (رضي الله عنه) په روایت سره نقل کوي چې رسول (الله صلي الله علیه وسلم) وفرمایل: الله تعالي په فیصلو کې په رشوت ورکوونکي او رشوت اخېستونکي لعنت ویلی دی. همدارنګه بزار او ابو یعلي د حضرت عایشې (رضي الله



عنها) څخه روایت کړی دی چې رسول الله (صلي الله علیه وسلم) په رشوت ورکوونکي او رشوت اخېستونکي باندې لعنت ویلی دی.

د حضرت ثعبان (رضي الله عنه) نه روایت دی هغه فرمايي: رسول الله (صلي الله علیه وسلم) په رشوت ورکوونکي، اخېستونکي او پر هغه چا لعنت ویلی چې د دې ترمنځ منډه ترړه کوي ترتیب جوړوي. (۹)

د پورته احادیثو څخه د رشوت حرمت ثابتېږي ځکه لعنت د الله تعالی د رحمت څخه لریوالي ته ویل کېږي او د الله تعالی د رحمت نه هغه څوک لرې کېږي چې مرتکب د کبیره او حرامو وي.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روایت دی چې (رسول الله صلي الله علیه وسلم) وفرمایل: چا چې په فیصله کې رشوت واخیست نو د ده او د جنت تر منځ به پرده وي. د دې وعید څخه هم د رشوت حرمت معلومېږي.. په دې باب نور خورا زیات احادیث شتون لري خو د اختصار په وجه په همدې اکتفاء کوو.

**رشوت د صحابوو او تابعینو (رضي الله عنهم) له نظره:** روایت کې راځي رسول الله (صلي الله علیه وسلم) عبدالله بن رواحه یهودو ته ولېږه تر څو د هغوی څخه د کجورو ټاکلی ټېکس را ټول کړي، هغوی عبدالله بن رواحه ته یوه اندازه مال د خرڅې په ډول ورانده کړ، عبدالله بن رواحه ورته وویل، کوم مال چې تاسو ماته د رشوت په ډول وړاندې کړ نو دا سحت دی او زه دا هیڅکله نه خورم. (رواه مالک)

بل روایت کې راځي، حضرت عمر (رضي الله عنه) سعد ابن ابي وقاص (رضي الله عنه) ته ولیکل، په مسلمانانو باندې د مشرکانو څخه هیڅوک د منشي په ډول مه مقرروه، ځکه هغوی په خپل دین کې رشوت اخلي او د الله تعالی په دین کې رشوت نشته.

طبراني د ابن مسعود (رضي الله عنه) څخه نقل کړی دی هغه وايي، (الرشوة في الحكم كفر وهو بين الناس سحت) په فیصله کې رشوت کفر دی او د خلکو ترمنځ سحت دی. (۱۰)

ابن منذر د مسروق نه نقل کړی دی چې ما حضرت عمر (رضي الله عنه) ته وویل، ته په فیصلو کې رشوت اخیستلو ته د سحت په نظر ګوري؟ هغه وفرمایل، نه! زه ورته د کفر په نظر ګورم، رشوت دېته وايي چې یو کس د حاکم سره بلد وي او د بل کس حاکم ته کار بند وي، نو د دغه کار د ترسره کولو په عوض کې هغه ته یو څه ډالۍ ورکړي. (۱۱)

ابن ابي شیبه د ابي وائل شقیق ابي سلمه په نوم یو تابعي څخه نقل کړی دی هغه وايي، قاضي چې کله ډالۍ واخلي نو ده حرام وخوړل او چې کله رشوت واخلي نو کفر ته رسېږي. (نیل الاوطار و احکام القران للجصاص) د پورته اقوالو او اثارو څخه په صراحت سره د رشوت حرمت ثابتېږي.

رشوت د اجماع له نظره: ټول صحابه، تابعین، فقهاء او امامان د رشوت په ورکولو، اخیستلو او ترمنځ یې اړیکه جوړولو په حرمت متفق دي، د هیچا څخه خلاف ثابت نه ده، البته په ځینو هغو مواردو کې اختلاف شتون لري چې د اضطرار او د خپل حق د ترلاسه کولو او د خپل حق د ضیاع د مخنیوي لپاره رشوت ورکول کېږي چې ځینې فقهاء یې ورکول جایز او اخیستل یې ناجایز بولي. د پورته دلایلو څخه ثابته شوه چې د رشوت ورکول، اخیستل او ترمنځ یې واسطه جوړېدل ټول حرام او ګناه کبیره ده.

**د رشوت ډولونه:**

اول: د حق د باطلولو او یا د باطل د حق کولو لپاره رشوت ورکول: دا ډول رشوت په اجماع د امت حرام او ناروا دی. ورکول، اخیستل او ترمنځ یې واسطه جوړېدل د حرمت په حکم کې برابر دی. اخېستونکی او ورکوونکی یې د باطل سره د اعانت او د ناحقه او ناروا فیصلې کولو په وجه فاسق بلل کېږي او د پورته ذکر شوو نصوصو او وعیدونو لاندې راځي.

دویم: د یو منصب او چوکۍ د ترلاسه کولو لپاره رشوت ورکول: دا ډول رشوت ورکول هم ناروا او حرام دي، ځکه دا د ډېرو مفاسدو ذریعه جوړېږي، چوکۍ او منصبونه د

نـا اهلـو خلکـو لاس تـه ورځـي او نـا اهلـه خلکو تـه منصبونه ورکـول د الله تعالـی او د هغـه د رسـول (صلـی الله علیـه وسـلم) سره خیانـت بلـل کېږي. همدارنګـه اجماع د امت پـه دې منعقـده ده چـې باید منصبونه خپل اهل ته وسپارل شي او د رشـوت پـه ذریعـه نا اهلو ته منصـب ورکول کېږي چـې پـه هیـڅ صـورت جـواز نلـري او نـه پـه دې سره څـوک قـاضي جوړېدلـی شي لکـه فقهـاء فرمایـي، (القـاضي اذا اخذالقضـاء بالرشـوة الصحیـح انـه لایصیـر قاضیـاً ولـو قضي لاینفذ قضائـه.. (۱۲)

مسـؤول تـه ډالـۍ (تحفـه) ورکـول: ډالـۍ هغـه مال تـه ویل کېـږي چـې یـو کـس یـې بـل کـس تـه د مینـې د څرګندولو لپـاره پرتـه لـه کـوم شرطـه ورکـوي؛ پـه شریعـت کـې ډالـۍ ورکـول او قبلـول مسـتحب او منـدوب ګڼـل شـوی دی، خـو دا د هغـه ځـا پـه حـق کـې چې هغـه پـه کومه دنـده او مسـؤول نـه وي مقـرر شـوی او د مسـلمانانو کارونـه هغـه پـورې نـه وي تـړل شـوي، کـه څوک په کـوم منصب باندې مقـرر وي نـو د هغـه لپـاره د ډالـۍ قبلـول جـواز نلـري، خصوصـاً د هغـو خلکـو ډالـۍ چـې د مسـؤولیت نـه مخکـې یـې دغـه مسـؤول ته د ډالـۍ ورکولو عـادت نـه و، لکه امام احمـد (رحمـه اللـه) وايـي: (مـن ولي شـیئا مـن امرالسـلطان لا اجیـز لـه ان یقبـل شـیئاً) همدارنګـه ابـن تین (رحمـه الله) وايـي: (هدایا العمال رشـوة ولیسـت بهدیة اذ لـولا العمل لم یهـد لـه و هدیـة القاضي سـحت ولاتملک) همدارنګـه ربیعه وايـي: (ایـاک والهدیـة فانهـا ذریعة الرشـوة)

علـماء وايـي قـاضي فقط د دوه ډولـه خلکو نه ډالـۍ قبلولی شي، یـو د هغـه کـس نـه ډالـۍ اخیسـتلای شي چـې د قضاء د مسـؤولیت نـه وړانـدې یـې نومـوړي تـه د هدیـه ورکولـو عـادت وو خـو دا پـه دې شرط چـې د مخکـې نـه بـه زیاتـه ډالـۍ نـه ورکـوي او د مسـؤول سره بـه یـې پـه محکمـه کـې کومـه موضـوع شـتون نلري، دویـم د هغه مـشر ځخه ډالـۍ قبلولـی شي چـې نومـوړی یـې پـه دنـده بانـدې مقـرر کـړی وي، خـو پـه دې شرط چـې د دغه مسـؤول سره بـه یې کومه موضـوع شـتون نلري.

